هوریال

څوارلسم کال، اوومه، پرلپسې ۱۴۳مه گڼه،
ذي الحـــجة۱۴۴۱هـــ ق جـــولای ۲۰۲۰م

نور کوم دلیل پاته دی؟! دکابل اداري بقا ته

مذاکرات به له افغاني جهتونو سره وي!!

- ترامپ در عرصه سیاست خارجی
- سلیمان لائق، یو سرگذشت یو عبرت
- ناسمې ارادې او ناکامې پلمې

داعش دارګ په قلمرو کې...!!

مورچل

علمي، سياسي
او جهادي مياشتنی خپرونه

څوارلسم کال اوومه، پرلپسې ۱۴۳مه گڼه،
ذي الحجة ۱۴۴۱هـق جولای ۲۰۲۰م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	داعش د ارګ په قلمرو کې	۲
۳	افغانانو! د سولې دښمن وپېژنئ!	۵
۴	ترامپ در عرصه سیاست خارجی	۷
۵	مذاکرات له افغاني جهتونو سره وي!!	۱۰
۶	سلیمان لائق یو سرګذشت یو عبرت	۱۱
۷	ناسمې ارادې او ناکامې پلمې	۱۵
۸	اشرف غني یو بله جګړه هم روانه ساتلې !	۱۷
۹	د اسلامي ټولنې خوان کهول ته !	۱۹
۱۰	نسلونه په عادتونو پېژندل کیږي!!	۲۳
۱۱	په ازره کې امریکایانو دیوې کورنۍ دولس غړي ووژل	۲۵
۱۲	له شهیدو اجسادو انتقام د جنایت او قساوت انتهاء ده!	۲۸
۱۳	داسرائیلو او اماراتو ترمنځ رامنځته شوی تړون	۲۹
۱۴	د مورچل دار الافتاء	۳۲
۱۵	د اسلام غزوات او سرایا..وروستۍ برخه	۳۴
۱۶	دشهید ملا نعمت الله عابد تقبله الله ژوندلیک	۳۶
۱۷	په جهاد کې زموږ اخلاق .....زړورتیا	۴۰
۱۸	جنګي جنایتونه (جولای)	۴۳
۱۹	مورچل وړمې	۴۶
۲۰	د ۲۰۲۰م کال د جولای میاشتې جهادي خبرونه	۴۸

د امتیاز خاوند
دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر
صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی
ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنیکي چارې
دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس
پته: کابل بښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دکابل اداري بقا ته نورکوم دليل پاته دی ؟!

که څه هم د دې قرن متمدن اشغالګر دخپل اشغال مشروعيت ته دانتخاباتو، ولسواکی او ديمکراسی په نوم ځينې ظاهري لارې چارې په اشغال شوي هيواد کې په لاره اچوي، چې اشغال يې ډېر رسوا نه وي، خو په افغانستان کې چې د ديمکراسی او انتخاباتو په نوم کومې رسوا کانې ترسره شوې، دنړی په بل هيڅ هيواد کې به يې بېلګه ونه موندل شي، تردې چې خپل متولي باداران يې هم پکې حيران کړل او اوس دنړی ولسونو ته هيڅ مخ نه لري . په افغان مسلمان ولس تپلو چارواکو همدا مشروعيت هم نور ځانته نه ده پرې ايښی، له ټولو پولو او سرو کرښو تېرشوي دي، ولې بيا هم دځان د بقاهڅې کوي اوپه هيواد کې دسولې او ټپکاو دراتلو په وړاندې خنډونه ايجادوي.

دغه سوله ضد اعمال په مسلسل ډول په ډېره سپين سترګی تکراروي، خپلې ټولې ژمنې له پامه غورځوي اوهيڅ بشري اونړيوال اصول په پام کې نه نيسي- اوس چې د دغو سپين سترګو چارواکو دبقا دمشروعيت کومه لاره نه ده پاته، نوپوښتنه داده چې ايا په دې هکله نړيواله ټولنه، په کور دننه احزاب او مؤثرجهتونه هم کوم مسؤليت لري که نه ؟! که لري يې نو کله به يې ترسره کوي ؟!! په داسې حال کې چې بالمقابل اسلامی امارت په خپلو کړيو ژمنوکې ډېر متعهد اوکلک ولاړدی .

که بياهم هغوی په دې اړه خپل مسؤليت لکه څنګه چې بنايي نه ترسره کوي او په دې حساسو شېبو کې چې دبين الافغاني مذاکراتو دمخنيوي ببلابېلې هڅې کيږي، نو اسلامي امارت چې له اشغاله دهيواد داستقلال اوخاتمې سياسي مالکيت ورسره دی،مجبورا په هيواد کې دامن، سولې او ټپکاو داعادې لپاره په بديله لاره فکر وکړي او نور بايد په دې اړه شته فرصتونه له لاسه ورنه کړي اونه نور وخت ضايع کړي .

داعش د ارګ په قلمرو کې...!!

موسی فرهاد

ننګرهار کې پر زندان له ډرامايي برید وروسته، د ارګ مربوط چارواکو او ویاندانو یو په بل پسې، داسې څرګندوني وکړې، چې زیاتره یې تورونه او له داعشي- پروژې نه د ځان د سپیناوي ناکامه هڅه وه.

مسعود اندرابی چې د کابل په اداره کې د کورنیو چارو وزیر دی؛ پر ټویټر ولیکل: حقاني شبکه، داعش او طالبان هر ورځ په افغانستان کې په ګډه بریدونه کوي. اندرابي ویلي، د داعش ډلې د خراسان ځانګې لپاره نوی تاکل شوی مشر شهاب المهاجر د حقاني شبکې غړی دی.

تر دې وړاندې د ارګ یو ویاند صدیق صدیقي وویل، د داعش اکثره غړي طالبان دي او افغانستان کې ډېرې ترهګرې ډلې شته چې غړي یې خپل لوری بدلوي. ده وویل، له امریکا سره د شوې هوکړې له مخې د طالبانو مسؤلیت دی چې له ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې کړي.

دا او دې ته ورته اتهامي اپلتي هغه څه دي چې همیشه یې د کابل اداري چارواکي په دې موخه وایي؛ چې له خان نه د داعشي- پروژې د پالنې هغه بدرنګی تور لرې کړي؛ چې اوس تقریباً ټوله نړۍ د دوی د منحوسو راوبطو په شتون متیقینه ده.

د جلال آباد پر زندان د برید له سناریو نه به لوستونکي پوه شي، چې داعش څنګه د ارګ په قلمرو کې فعال دی، او څنګه یې ارګ ترلې چارواکي هینډل کوي.

د ننګرهار پر زندان له برید وروسته سمدستي د چارواکو دا ډول غبرګونونه او نه سره لګیدونکي څرګندوني ثابتوي چې هغوی د ځان د ناکام سپیناوي په هڅه کې دي.

داعش د ارګ دویمه حربه

په داسې حال کې چې د دوحې د ټرون په پایله کې د اسلامي امارت اړوند د پنځه زره بندیانو خلاصون د کابل اداري لپاره د زهرو غړپ تیرول و، په همدې خاطر یې د سولې پروسه شپږ میاشتې په بیلابیلو بهانو شاته وغورځوله، او لا هم لګیا دي چې د سولې دا افغاني پروسه سبوتاژ کړي، د اسلامي امارت د بریا مخه ونیسي-، د خپلې نا مشروع څوکۍ د بقا لپاره هلې ځلې کوي، د بندیانو په نه

خلاصون کې يې تر اخره حده زور وواهه. خو ونه توانيدل.

دويمه حربه يې د داعشي يګيلانو ډرامه بيا را ژوندي کول دي، چې وخت ناوخت د ارګ ترچټر لاندې د ملي امنيت په دستور له داعش نه دغسې استفادې کوي، لکه د اختر د اوربند په شپو ورځو کې چې يې په ننګرهار کې پر محبس برید وکړ.

دا برید چې ځنګه د چارواکو په دستور ترسره شو، او هدف يې د طالب بنديانو له منځه وړل او د داعشي- کسانو تنبستول وو؛ د دې شواهد به پخپله د چارواکو په ځرګندونو کې ومومئ.

پر زندان د برید سناريو

د ننګرهار په زندان کې ټول ټال له ۱۵ سوه تر ۲ زره پورې بنديان وو، چې ۲۹۰ تنه يې طالب مجاهدين، لږ شمېر يې جنايان او پاتې نور يې ټول داعشيان وو. چې تېر کال د مجاهدينو له برېده چارواکو ژغورلي او دلته يې خوندي کړي وو.

د اختر په دربيمه ورځ پر ياد زندان پراخ ډله ايز برید ترسره شو، چې تر شواروز زيات وخت يې ونيوی، د کابل ميډيا خورا ستر کيوريج ورکړ، او د تلفاتو شمېر يې هم خورا زيات ښودل کيده، خو زمينې حقايق له رسنيزې ډرامې نه ډېر ښکاريدل.

موثق اطلاعات دا دي چې دا برید د کابل د سنا جرګې مشر- فضل هادي مسلميار او د زندان د مشر عبدالولي حصارکي په ګډ پلان سره ترتيب شوی، او هغه تنبستيدلي داعشيان ټول اوس د ننګرهار د چپرهار ولسوالۍ د دولتزيو د چينو سيمه کې ساتل کيږي چې پالنه يې د مسلميار ورور صديق مسلميار کوي.

په دغه برید کې يې هدف د داعشيانو خلاصول او د طالب اسيرانو وژل وو. چې په دې کې يې څو تنه طالبان شهيدان هم کړل او څو نورو خان خلاص کړی، خو داعشيان ټول وتلي او وار ترله مخه وسلي ورته رسول شوي او څلور ځايه د داعشيانو بلاکونو ته لاړي جوړي شوي وي.

دا خبره په ولسي جرګه کې د ننګرهار د استاځي، عبدالرووف شپون ده چې وايي، «د زندان هغه بلاک چې د داعش ډلې جنګيالي پکې ساتل کېدل، په بشپړ ډول خالي شوی او هغه کسان چې اصل هدف وو؛ ټول تنبتېدلي».

امريکا برغ آشنا راډيو وايي، د حملې په ترڅ کې برید کوونکو محبس کې څلور دېوالونه وار له مخه سوري کړي وو او زندانيانو ته يې د تېښتې لاره پرانيستې وه.

همدارنګه را وتلي زندانيان وايي، په هغه بلاک کې چيرې چې داعشيان اوسيدل؛ د ټولو خونو قلفونه خلاص کړل شوي وو، زندان ساتونکی پرسونل په دې وخت کې له محبس نه ايستل شوي وو، دا ټول کارونه د محبس د مدير په لارښوونه ترسره شوي وو، مدير چې د فضل هادي مسلميار ښې لاس ګنل کيږي، دوې اونۍ وړاندې د دربيم ځل لپاره د مسلميار په خانکړې سپارښتنه د محبس د آمر په توګه مقرر شوی و، چې په دغه پلان

کې يې د مسلمیار او داعشیانو طرح په ښه توګه ورته عملي کړه.

محبس ته څېرمه د يو مارکېټ دوکانـدارانو امریکا غږ تـه ویلي چې امنیتي کمرې هم وار له مخه لري شـوي وي، او څرګنـده نه ده چې بریدکونکو ورې او که حکومتي چارواکو.

د مسـلمیار پـه اړه دقیـق مالومـــات لرونکـــي، د سوشـل میـډیا فعـال «احمـــدفایز» د یـــو عینـــي شـــاهد د خـولې خـبره را اخیســتې، هغــه لیکي:

عیني شاهد:

د جلال اباد یو تن بنـدي چې پـه تیښـته بریـالی سـوی و؛ راتـه وویـل: کلـه چـې بریـدګر راغلل، له موږ یې پوښتنې کولې، له چاسره تړاو لرئ؟ کـه بـه مـو طالبان ورته وښودل په کونداغونو به یې وهلـو، چې دوی بـه تېـر شول، عسکر به راغلل هغوی به هم موږ وهلو خو برید ګرو تـه یـې هیڅ نه ویل.

دغه عیني شاهد ویلي، طالب اسیران به نیول کیدل بیرته بـه کوټو ته دننه کیدل، خو د داعش هغه به د عسکرو په وړانـدي، پـه نورو دولتي موټرو کې خوندي سیمو ته بیول کیدل.

بندي زیاته کړه، موږ ته له ورایه څرګندیدله چې دا پلان ټول د محبس آمر جوړ کړی وو، هغه بریتو چې د مسـلمیار خـاص نفـر دی، د ده پـه وینـا د محـبس آمـر داعشي- بنـدیان تـول وایسـتل، دا اوس هم په چپرهـار کـې د صـدیق مسـلمیار پـه حـویلی کـې خـای پرځای دي.

دا او دې تـه ورتـه نـور شـواهد چـې لـه داعشی پروژې نه د کابـــل اداري د چـــــارواکو خصوصاً اتمر او مسـلمیار غونـدي څیرو برملا ملاتړ ثابتوي؛ بیخي دېر دي او په وار وار پـه رسـنیو کـې د چـارواکو لخوا را څرګند شوي دي.

مګر له دې سره سره بیا هم د کابـل بـدنام چـارواکي کوشـش کـوي چـې خپـل تـور لاسـونه د مجاهدینو پـه سـپېځلې لمـن پـاک کړي. هغه څه چې تراوسه یـې پـه تـرسره کولـو کـې نـامراده پـاتې شوي. او د داعشي پروژې ثبوت د ارګ په قلمرو کې د ملت او نـړۍ په وړاندي دي.

افغانانو!
دسولې دښمن وپيژنئ!

■ ارمان

وروسته له هغه چې دغوايي په نهمه کابل رژيم لخوا رابللې جرګې د۴سوه طالب بنديانو پرېښودو پرېکړه وکړه، ډيرو افغانانوسره هيواد ته دسولې راتلو په اړه هېلمندي اوتمه پيداشوه،خو هغه مهال دهغوی داهېله په نهېلۍ بدله شوه چې کله د قدرت « ليوني غني» د نوروحيلو،پلمو اوبهانوپه تراشلو لاس پورې کړ

لومړی بهانه يا پلمه يې دا وراندې کړه چې ۴سوه طالبان زکه نشي خوشي کولی چې دځينوخارجي هيوادونو لخوايې پرېښودو سره مخالفت شوی دی،دې لړکې يې دفرانسې اوديوبل هيوادنوم يادکړچې هغوی ترې دهغوطالبانو دنه خوشي کولوغوښتنه کړې ده کوم چې د دوی دعسکروپه وژلوتورن دي.

هردشعورخاوند پوهېږي چې کرغيړن غني څومره ازاد اوخپلواک ولسمشردی؟ايا په پلازمينه (کابل) کې راتول جرګوال دکابل رژيم له ليده دملت استازي وو؟ که څواب مثبت وي نوبياولې دکوم خارجي هيواد په غوښتنه دهغوی تصميم اوپريکړه نقض کېږي اوپه مقابل کې يې د خارجي هيواد فرمايش منل کېږي؟ حقيقت دادی چې غني پرلپسې دافغانانو اونړيوالوپه سترګوکې خاورې شيندې،دده يوګام هم دسولې راتلو لپاره واقعبينانه ندی، او نه يې راغوښتې جرګه دملت استازي جرګه وه او نه رښتيا بهرنيانووڅخه دطالبانو دنه پرېښودوجدي غوښتنه کړې ده، بلکې شپه وړځ همداهڅه کوي چې څنګه سوله تخريب کړي او دسولې غږپه څه ډول خاموش کړي؟

بنکاره مثال يې په پلازمينه (کابل) کې دهغو مخورو اومنلوشخصيتونو وژل اوترور کول دي، کوم چې دسولې داعيان اوملاتړکوونکي وو

بايد پوی شو چې دبنديانو خلاصون قضيه هيڅکله کومه پټه اوعاجلانه قضيه نده، په دې باندې د دوحې ترون لاسليکولو څخه وراندې په يووس اوږدمهالو پراوونوکې دجانبينوترمنځ اوږدې چنې وهل شوې دي او هم په اړه يې امريکايانو قدم په قدم خپل متحدين اوملګري هيوادونه په اعتمادکې اخيستې، خليل زاد به دهرپراو بشپړيدو وروسته کابل اودناټومرکز (برسلز)ته خامخا سفرونه کول څو دکابل رژيم په ګډون دناټوغړي هيوادونه له شويوپرمختياوو څخه آګاه کړي، ددې باوجودا نوې پلمې اوبهانې لټول دسولې څخه دتيښتې او ورسره دمخالفت په معنی دي

دخـــارجي هيـــوادو لخـــوا دبنـــديانوخوشي کولودمخالفت پلمې وړاندې کولو وروسـته غـنـي پـه واشنګټن پوسټ کې يوه اوږده ليکنه خپره کړه اوپه هغـه کـې يـې کوښښ کـړی څـو امريکايـانو اوپـه مجموع کې ټول غربيان ودارووي چې له افغانستانه د دوی دخواکونو د وتو وروسـته بـه امريکـا او اروپـا دواړوتـه لـه امنيتـي پلـوه دجـدي ګوابـونه پـيښ شي!اودغربيانو دعامه اذهانو تغيرولو لپاره يې د ډيرو خيالي ننګونو په وړاندې کولو دهغوی دارولـو پـوره کوښښ کړی دی.

له هغه وروسته يې يوې برتانوی ورځپاڼې سره په مرکه کې دا هـم وويل:کـه دا شـته بنـدي طالبـان خوشي شول نوپه اروپا او په خاصه توګه په برتانيابه دنشه توکيوسيلاب ورشي اوټول برتانويان به نشه يان اوپوډريـان شي!حـال داچـې دهمـده کرغيـړن پـه حکومت کـې افغانسـتان پـه ټولـه نـړۍ کـې دنشـه توکيـو پـه قاچـاق او کرلـوکې لـومړی مقـام لـري! نوددينه بل لوی سيلاب څه کيدای شي؟ ښکاري داسې لکه سيلاب اخيستی حواس باخطه انسان چې دخپل وروستي نجات لپاره يو خوا بل خوا داوبوزړ تـه هـم لاسونه اچوي، دی هم هغسې دخپل وروسـتي نجـات لپـاره سرګـردان او لا لهانـددی،اودخبرو لـوری تـرې ورک دی دکتونکوپه اند: هرڅو چې وخت تيريږي دافغانانودا باورپخيږي چې اشرف غني يوبې ضـميره او بې وجدانه سړی او دده په قـاموس کـې د شرم يـا خجالت توري له سره نشته چې پخپلووياوو اوکړنـو خجالت احساس کړي.

دبې بې سې په وينا: دافغانستان اسلامي امـارت وياند ښاغلي ذبيح الله مجاهد داشرف غني ددې خبرې په خواب کې چې د۴ سوه بنـديانو پـه خـوشي کولـو سره به په برتانيا او اروپا باندې دنشـه توکـو سـيلاب ورشي ويلي: چې داسلامي امارت دحاکميـت پـه دوره کـې دتريـاکوکنبـت صـفرته رابـکـته شـوی و او د امريکايانو د يرغل وروسـته پکـې دومـره زيـاتوالی راغی چې نن يې له امله افغانستان په نړۍ کې لومړی مقام لري .

رازو ديته چې اشرف غـني يوعصـباني نـاروغ شخص دی،خارجيانودا ناروغ اوليـوني ... دمفکرپـه نوم راوست دافغانانو سرنوشت يې په لاس ورکـړ،نن دادی هغه ليونی مفکر دافغانستان مصالح اوښـېرازې دپردیو اهدافو او موخو لپاره قربـانوي اودسـولې پـه لارکې پرلپسې خندونه اچـوي اشرف غـني او دهغـه کابينه چې دپردې چوپړلاندې روزل شـوي هيڅکلـه نه غواړي چې افغانان دسولې اوارامی په فضاکې ساه واخلي، لګيا دي په مختلفو حيلـو، پلمـو اوبهـانو سره يې د مخنيوي هڅې کوي .

پکار ځدی ټول ولس د اشرف غني ددې نـه بښـونکي جنايـت پـه وړانـدې را پورتـه شي اوپـه افغـاني هـوډ اوهمت دده دکاواکه اولړزيـدلي رژيـم تغـر ورټـول کړي اونـور لاس ترزنـې کيننې او راوړانـدې دي شي پخپل لاس کې دسولې راوستو ابتکار واخلي کنه دابې ضميره غواړي چې همداسې دي دافغانانو وينـي لکـه داوبو ارزانه بهيږي او دی دي په ارګ کې له خپل ټيم سره په ګډه همداسې په فحشاوو کې غرق وي.

ترامپ در عرصه سیاست خارجی

حبیبی سمنگانی

پنجاه و نهمین انتخابات ریاست جمهوری ایالات متحده امریکا تا تقریبا دو ماه آینده - به تاریخ ۳ نومبر - برگزار می شود. نظرسنجی‌ها و پیش‌بینی‌های ابتدایی نشان می دهد که مقابله تنگاتنگ میان دونالد ترامپ و جو بایدن رخ می‌دهد. اگرچه تا پیش از رسیدن بیماری کرونا، احتمال برنده شدن ترامپ با توجه به دستاوردهای بزرگ اقتصادی وی، بسیار غالب بود. اما برخورد سطحی و عاقبت نا اندیشانه وی در برابر وبای هلاکت‌بار کرونا، گراف محبوبیت وی را زیان‌مند ساخت و یکبار حتی جو بایدن را بر وی سبقت داد. اکنون اگرچه از نگاه آگاهان؛ تفاوت چندانی میان هر دو رقیب کهن‌سال جمهوری خواه و دموکرات نمانده است، اما گفته می شود که جایگاه ترامپ دوباره رو به بهبودی است. البته؛ با رعایت رنگانگی طبیعت و موقف‌گیری‌های باور نکردنی ترامپ، بعید نیست که این پیش‌بینی‌ها و آمار نظرسنجی‌ها به زودی پایین و بالا برود.

پالیسی و استراتژی های خارجی دونالد ترامپ همواره جنجال و سوال بر انگیز بوده، و به‌خصوص نادیده گرفتن و بی‌وقعت ساختن متحدان دائمی و استراتژیک امریکا، نوعیت روابط پنهانی وی با روسیه و همچنان موقف مهاجمانه وی در جنگ اقتصادی و تجاری با چین و مهم تر از همه؛ نقض‌های یکطرفه و بی باکانه معاهدات و پیمان‌های بین المللی به خصوص خروج از معاهده اقلیمی پاریس و سازمان صحی جهان، از موضوعات داغ جهان در دوره پر هیجان ریاست جمهوری وی بوده است. در سطور ذیل نگاهی می کنیم به چگونگی تعامل سیاسی دولت ترامپ در چهار سال گذشته.

موقف ترامپ در قبال ایران و به‌خصوص توافق هسته‌ای برجام - برنامه جامع اقدام مشترک – از ابتدا برملا بود، وی در مبارزات انتخاباتی نیز شعارهای مخالفانه ای در برابر ایران داشت و در ماه‌های اول ریاست جمهوری اش، گفته بود : «برجام بدترین توافقنامه‌ای است که دیده ام».

اما موقف وی در برابر برجام، که بین ایران و گروه ۵+۱ یعنی چین، فرانسه، روسیه، بریتانیا، ایالات متحده آمریکا و آلمان در سال ۲۰۱۵ در اتریش

امضا شده بود، به تدریج تندتر شد و بالاخره در ماه می ۲۰۱۸ رسما از برجام خارج شد و گویا برجام را همان زمان پایان بخشید. ترامپ با خروج از برجام، نه تنها تحریم‌های اقتصادی علیه ایران را بازگرداند بلکه تحریم های جدیدی را هم اضافه کرد و امید دوباره به پا ایستاده شدن اقتصادی ایران را با خاک یکسان ساخت. همان بود که فرار سرمایه خارجی، داخلی و انسانی از ایران، دوباره شروع شد.

اما اکنون که ترامپ در آستانه انتخابات قرار دارد و برای برنده شدنِ دوباره، دست‌وپا می‌زند، استراتژی وی در قبال ایران مورد نقد و بررسی قرار گرفته است. بسیاری ها به دلیل اینکه ترامپ نتوانست ایران را به حاضر شدن در میز مذاکره وادار بسازد، استراتژی وی را ناکام می دانند. از همینست که چند روز پیش، هرگاه نماینده ویژه ایالات متحده برای ایران «برایان هوک» از سمتش استعفا داد و «الیوت آبرامز» به‌جای وی گماشته شد، آگاهان گفتند : هوک استعفا نداده، بلکه مجبور به استعفا شده است، تا بار ناکامی استراتژی ترامپ به‌دوش وی انداخته شود. گویا برایان هوک با قربانی دادن خود، ترامپ را کمک رسانده است.

الیوت آبرامز، که از ۲۰ ماه به اینسو به حیث نماینده ویژه ایالات متحده برای ونزوئلا وظیفه انجام می دهد، پس ازین در پهلوی ونزوئلا، امور ایران را هم به پیش می‌برد. در حالی‌که او در ونزوئلا ناکام تر از برایان هوک در ایران بوده است. به ویژه سه کودتای نافرجام و احمقانه در برابر نظام و رهبر ونزوئلا، مایه رنگ‌زردی و رسوایی امریکا شد. گوآیدو، که در جنوری ۲۰۱۹ خود را رئیس جمهور خودخوانده اعلان کرد و فوری از سوی ترامپ و بعضی کشورهای همجوار حمایت شد، در کودتای خود ناکام ماند و هرگز جایگاهی برای خود پیدا نتوانست.

آبرامز که دولت های ایران و ونزوئلا را دولت های منفور می خواند، دو دهه پیش در کودتای ناکام علیه هوگو چاوز، رئیس جمهور وقت ونزوئلا نیز نقش داشته است.

جنجال ایالات متحده و کوریای شمالی نیز لاینحل مانده و مذاکرات هر دو طرف به نتیجه‌ی حتمی و یا مرحله امیدوار کننده نرسیده است. اگرچه رهبران امریکا و کوریای شمالی پس از ۱۹۵۳ میلادی برای نخستین بار در جون ۲۰۱۸ در سنگاپور و بار دوم در فبروری ۲۰۱۹ در ویتنام با هم دیدند و یکبار تفاهم‌نامه‌ای چهار ماده‌ای را هم امضا کردند و سازمان ملل متحد، آژانس بین المللی انرژی اتمی، روسیه، چین، جاپان، اتحادیه اروپا، بریتانیا، آلمان و کوریای جنوبی از دیدار ترامپ و کیم‌جونگ و امضای تفاهم‌نامه استقبال کردند، اما این ترامپ بود که تنها ده روز پس از دیدار با کیم‌جونگ‌اون، رهبر کوریای شمالی تحریم‌های اقتصادی علیه کوریای شمالی را تا مدت یکسال دیگر تمدید کرد.

سخنگوی وزارت خارجه کوریای شمالی واشنگتن را متهم می‌کند که هدف امریکا تنها مشغول ساختن اذهان مردم از مسائل داخلی امریکا است و دلیلی برای آغاز سلسله جدیدی مذاکرات دیده نمی‌شود. کوریای جنوبی نیز از تعامل امریکا در

قبال کوریای شمالی مطمئن نیست و به گفته مشاور ارشد رئیس جمهور آن کشور؛ امریکا باید کوریای شمالی را برای دست‌برداری از سلاح هسته‌ای بیشتر تشویق می‌کرد.

آن‌چه ترامپ می‌تواند ازان به‌حیث دستاورد عمده خود در عرصه سیاست خارجی یاد کند، امضای پیمان دوحه با طالبان است، که می‌تواند سبب پایان دادن طولانی‌ترین و گران‌ترین جنگ تاریخ امریکا گردد. جنگی‌که حیثیت جهانی امریکا را به‌شدت جریحه‌دار ساخت و با گذشت هر روز سبب بی‌توقیری بیش‌تر امریکا می‌شد.

اگرچه ترامپ جنگ امریکا در افغانستان را از ابتدا لایعنی و بی‌نتیجه می‌دانست و پایان دادن این جنگ از شعارهای عمده وی در کمپاین انتخاباتی ۲۰۱۶ بود، اما با اعلان استراتژی جنگی در قبال افغانستان در اگست ۲۰۱۷ وی از مسیر تعیین‌کرده خود منحرف شد. دانسته می‌شد که وی نیز گرفتار دام جنرالان جنگ‌طلب شده است. اما ناکامی آن استراتژی، این حقیقت را دوباره بر وی منکشف ساخت که بدون بیرون‌رفت از افغانستان، دیگر چاره‌ای ندارد. همان بود که سلسله مذاکرات مستقیم میان امارت اسلامی و ایالات متحده آغاز و منجر به امضای پیمان پایان اشغال شد. حالا دونالد ترامپ از این «دستاورد» خود در کارزار انتخاباتی‌اش یاد می‌کند و تلاش دارد با اخراج هرچه بیشتر عساکر امریکایی از افغانستان، حمایت بیش تر مردمی را از آنِ خود سازد.

مهم اینست که جو بایدن، رقیب انتخاباتی ترامپ نیز بر خلاف توقع اداره کابل، ضمن حمایت از پایان جنگ افغانستان، در مصاحبه خود گفته‌است که؛ ما به بهانه حقوق زنان افغان، نمی‌توانیم در افغانستان بجنگیم.

در مجموع، سیاست تند، یکطرفه و خودخواهانه ترامپ نه تنها برای مخالفان و حریفان بلکه برای حامیان و ائتلافیان امریکا هم سرسام آور و پریشان کننده بوده و است. البته؛ آن‌چه به آن آگاهان اتفاق دارند اینست که حالا برای امریکایی‌ها بیش‌تر از سیاست خارجی، معاملات داخلی امریکا مهم‌تر است و کامیابی‌ها و ناکامی‌های ترامپ در امور داخلی امریکا، نقش اساسی در انتخابات امریکا خواهد داشت.



مذاکرات به له افغاني جهتونو سره وي!!

م ـ مبصر

د اسلامي امارت او پر افغانستان د اشغالګر ایتلاف له مشري کوونکي امریکا سره د یرغلګرو د وتلو تړون په هېواد کې د سولې او امنیت راتلو هیلې راوټوکولې. خو دا چې دې تړون د بهرنیانو په لاس له نصب شوي رژیمه هر څه تروړلي. کابل اداره په ټول توان د دې تړون د عملي کېدو په مخ کې خنډونه جوړوي .

د باور جوړونې لپاره د پنځو زرو بندیانو موضوع په لوی لاس مغلقه کول او څو میاشتو ته اوږدول د دې خنډونو یوه نمونه ده، چې د توافقنامې د دویم او تر ټولو مهم پړاو مخه نیولې ده. البته د بندیانو د آزادۍ په ځنډ کې د کابل اداري ترځنګ امریکا او د هغې نور متحدین هم رول لري - چې دا د توافقنامې له روح سره په ټکر کې دی او د اسلامي امارت لخوا د ټولو ژمنو د پوره کېدو په مقابل کې له تړونه سرغړونه بلل کېدای شي .

تازه د کابل رژیم چارواکو ویلي چې دوی د راتلونکو مذاکراتو له نوم سره ((مشکل)) لري. دوی ادعا کوي چې دا مذاکرات به د په اصطلاح ((افغان حکومت)) او اسلامي امارت ترمنځ وي - دا حقیقت له پامه غورځوي چې اسلامي امارت له اشغاله رازېرېدلې اداره د افغانانو استازې نه بولي او په رسمیت یې نه پېژني. د مذاکراتو ماهیت پخپله د کابل رژیم دا ادعا دروغجنه ثابتوي چې ګویا دا مذاکرات د دوی او اسلامي امارت ترمنځ دي .

که کابل رژیم او متحدین یې د ټولو پنځو زرو بندیانو د خلاصون کړې ژمنه پوره کړي، اسلامي امارت د یوې اوونۍ په ظرف کې د بین الافغاني مذاکراتو تر چټر لاندې د هېواد له ټولو سیاسي حزبونو او شخصیتونو سره خبرو ته چمتو دی. په دې خبرو کې به کابل اداره هم د نورو اړخونو په څېر د یوه جانب په حیث ګډون لري، نه د ټول افغان ولس په نمایندګۍ .

اسلامي امارت له خپله اړخه د حوت د ۱۰ مې د تړون هره ماده عملي کړې ده. د کابل رژیم د زرو بندیانو د خلاصون پروسه یې بشپړه کړې، او بین الافغاني مذاکراتو ته یې ټول چمتووالی نیولی - په داسې حال کې چې مقابل اړخ د کړو ژمنو د ماتولو ترځنګ لا هم د یوه ټولشموله، متفق علیه جوړښت او مرجع په ایجاد نه دی نوابېدلی. هېواد نه د سولې او سوکالۍ راستنېدو دا فرصت که د خنډونو له امله وځنډېږي او یا هم، خدای مه کړه، ضایع شي، مسؤل به هماغه جهت وي چې له کړو وعدو پر شا شوي او د افغانانو د ارمان د پوره کېدو په لار کې یې کانې غورځولي وي.

خالدافغان زوی

سلیمان لائق
یو سرگذشت یو عبرت

په افغانستان کې د دهریت او کمونیزم لوی داعي، د لینن مداح،د شوروي اشغال د وخت درباري شاعر او د وخت کعب بن اشرف سلیمان لائق څو ورځې وړاندې ساه ورکړه. د سلیمان لایق ژوند او سرګذشت یو له عبرت او پند ډک داستان دی چې غواړو دلته یې په لنډ ډول درسره شریک کړو.

سل کاله پخوا د پکتیکا په سرروضه کې یو مشهور او منلی عالم اوسیده چې په مولانا عبدالغني یې شهرت درلود. مولانا عبدالغني په قوم سلیمان خېل او د پکتیکا د مرکز ښرني د ایمني خېلو د کلي اوسیدونکی و. نوموړي د وخت مروجه علوم پای ته رسولي و او اوس یې په سرروضه ولسوالۍ کې د امامت او تدریس دنده پر مخ وړله.

مولانا عبدالغني یوازې عالم او مدرس نه و، بلکې د قلم او فکر خاوند و، په سیمه کې یې په یوه بانفوذه او مخور عالم شهرت درلود. د انګریزانو په مقابل کې د استقلال په جګړه کې یې د ولسونو په پاڅولو او انسجام کې د یادولو وړ رول درلود. نوموړی د استقلال په جنګ کې د وانه محاذ ته تللی و، هلته یې د نادر خان د ورور سردار شاولي خان تر څنګ د قبایلي وزیرو او مسودو تر څنګ په جهاد او فتوحاتو کې بارز نقش درلود. د وزیرستان خلکو د افغانستان د استقلال په مبارزه کې غوښنه وڼده درلوده. له همدې امله خو چې کله له انګریزانو سره متارکه وشوه او د افغانستان استقلال ومنل شو، انګریزانو له قبائلو څخه د غج اخیستلو په مقصد په وزیرستان لوی برید وکړ. دغه وخت که څه هم د افغانستان حکومت له انګریز سره ښکاره جنګ اعلان نه کړ. مګر د یوه وتلي او مجاهد عالم ملا عبدالرزاق اندړ تر مشرۍ لاندې یې ځینې مجاهدین وزیرستان ته سوق کړل تر څو د انګریز په مقابل کې د قبائلو ملاتړ وکړي.

ملا عبدالرزاق دغه مهال د عمر په وروستیو کلونو کې و او صحي وضعیت هم ښه نه و، نوموړی چې سرروضې ته ورسید نو مولانا عبدالغني یې له ځان سره ملګری کړ. دوی وزیرستان ته لاړل، هلته یې قبایلي مجاهدین د

انګریزانو خلاف منسجم کړل، تر څو یې انګریزان بیرته شاتګ ته مجبور کړل. په دې جهادي ماموریت کې که څه هم مشري د ملا عبدالرزاق اندړ په غاړه وه، خو اکثر فعالیتونه د مولانا عبدالغني لخوا کیدل چې د امان الله خان په امر د ناظم حرب په حیث تاکل شوی و. دغه متور او ځیرک عالم چې له ټولو مروجه وسلو او جنګي فن سره یې بلدیت درلود په ډیر اخلاص او مهارت یې د انګریزي یرغلګرو مقابله وکړه او د همدې مسؤلیت د ښه ترسره کولو له امله په کابل کې د حکومتي سردارانو تر منځ هم خورا محبوب او د توجه وړ وګرځېد.

مولانا عبدالغني د همدې تعارف په اساس کابل ته تګ راتګ پیل کړ، هلته یې د شوربازار له مجددي حضراتو سره شناخت پیدا شو. نومورې د شور بازار له حضرت نور المشائخ فضل عمر مجددي سره بیعت وکړ او د خپل علمي کمال او همت په برکت یې ډیر ژر د یوه وتلي صوفي او سالک په حیث شهرت وموند. مولانا عبدالغني که پخوا یوازې د ظاهري علومو ماهر و وروسته یې معنوي او روحاني استعداد هم خپل کړ او د نقشبندیې طریقې د خلافت اذن یې ترلاسه کړ.

په ۱۹۳۰ میلادي کال کې د مولانا عبدالغني زوی پیدا شو. دا چې نومورې د کابل له مجددي حضراتو سره ډیر اخلاص او ارادت درلود نو په خپل زوی یې (غلام مجدد) نوم کیښود. معنی دا چې دا زوی به یې د مجددي حضراتو غلام او خدمتګار وي. مولانا عبدالغني له مجددي کورنۍ سره دومره اخلاص درلود. چې څو کاله وروسته یې خپله لور د مجددي کورنۍ یوه څوان (صبغة الله مجددي) ته همداسې مفته په نکاح ورکړه.

دا چې مولانا عبدالغني د استقلال په جګړه کې د واړه محاذ له مشر مارشال شاولي خان سره تعارف درلود او له دې لارې د نادر خان له نورو وروڼو هاشم خان او شاه محمود خان سره هم شناخته شوی و. د ظاهر شاه د حکومت په اوائلو کې صدر اعظم هاشم خان مولانا عبدالغني کابل ته راوغوښت او د صدرات د جومات امام یې تعین کړ. هاشم خان د مولانا عبدالغني تقوی او دیانت ته دومره تسلیم و چې هغه ته به یې ویل له تا پرته مې په بل امام پسې نیت نه صحیح کیږي. په دې ډول د پکتیکا یو کلیوال عالم مولانا عبدالغني له ښرني څخه د کابل ارګ ته ورسید او دلته د همیشني اوسیدو له امله یې خپل کور هم کابل ته انتقال کړ.

مولانا عبدالغني چې کابل ته کډه وکړه نو په لومړي کال یې په اولادونو د سري او کوي ناروغي کډې شوې، یو زوی او لور یې په سري مړه شول خو د غلام مجدد په نوم زوی چې کوي یې مخ ور پمن کړ، خو له مرګ بچ پاته شو. مولانا عبدالغني چې عابد سړی و، کله به چې سهار وختي پاڅید نو خپل ماشوم زوی غلام مجدد به یې هم پاڅاوه. دغه وخت به یې ورته د عربي او فارسي د ادب کتابونه ویلي. مولانا عبدالغني د فردوسي، نظامي، سعدی، صائب اصفهانی، مولانا عبدالرحمن جامی، حکیم

سنایی، مولانا جلال الدین بلخی، ناصر خسرو، امیر خسرو دهلوی، بیدل او د فارسي ژبې د نورو کلاسیکو شاعرانو د کتابونو ژوره مطالعه درلوده. د همدې ادبي قریحي په اساس یې خپل ماشوم زوی هم له هماغې کوچنیوالي له فارسي ادب سره شناخته کړ او دغه ادبي اثار یې ورباندې زده او هضم کړل.

مولانا عبدالغني په خپل زوی د عربي ژبې د پخوانیو شاعرانو لکه متنبي، جریر، فرزدق او نورو کتابونه هم ولوستل. د عربي صرف او نحو، بلاغت، فقه، کلام او د نورو علومو ابتدائي کتابونه یې هم ورته وویل او تمه یې درلوده چې زوی به یې د ده په شان د دیني علومو ستر عالم او خدمتګار شي. اما څو کاله وروسته چې کله غلام مجدد په کابل کې عصري زده کړې پیل کړې او د لیسې او پوهنتون په چاپیریال کې د کورفکره خلکو سره ملګری شو، مولانا عبدالغني دغه وخت د خپل زوی تربیې او پالنې ته لازمه توجه ونه کړه.

د اولاد په تربیه کې همدا غفلت و چې مولانا عبدالغني یې خورا درنه بیه پرې کړه. غلام مجدد د پوهنتون په چاپیریال کې د میر اکبر خیبر په نوم له یو داسې چا سره اشنا شو چې په افغانستان کې د کمونیزم مغز متفکر بلل کیږي. مولانا عبدالغني چې د خپل زوی د ملګرو له حاله یې څان نه خبراوه، نتیجه یې دا شوه چې بې باکه ملګرو غلام مجدد له خپل دیني مسیر څخه منحرف کړ. نومورې له خپلو ملګرو څخه د الحاد او کمونیزم رنګ واخیست او د دې لپاره چې د مجددیانو له دیني کورنۍ سره یې د نوم تړاو وشلیږي پر څان یې (سلیمان لایق) نوم کیښود.

سلیمان لائق د پلار لخوا د ورته القاء شوې علمي او ادبي ذخیرې په اساس شاعري پیل کړه. خو شاعري یې د پلار له تمې سره سم د دین او دیانت لپاره نه وه، بلکې د کمونیزم او دهریت د ستاینې لپاره وه. مولانا عبدالغني له خپل زوی تمه درلوده چې هغه به یو ستر عالم او د الله تعالی په وړاندې عبادت کوونکی وي. خو سلیمان لایق په شعر کې وویل:

نن په نړۍ خور دی د لنین د بري لمر
شور دی د څنځیر د ماتوونکي اکتوبر
ملتونه د شورا ورته ولاړ دي
غوړولی ستر مسکو ورته وزر
په حرمت مې مغزی هیچاته کوز نشو
مګر ده ته مې کوزیږي مغرور سر

سلیمان لایق چې د ده په خبره مغرور سر یې یوازې لعین لینن ته په عبادت ټپټېده وروسته یې د نورو دهریانو په مرسته په افغانستان کې د کمونیست ګوند بنسټ کیښود. د دې ګوند د یوه فرکسیون جریده پرچم نومېدله چې یو وخت یې (درود بر لنین) په عنوان مضمون چاپ کړی و او په افغانستان کې یې لویه غوغا جوړه کړه.

سلیمان لائق چې پلار یې غلام مجدد نوم پرې ایښی و هیله یې درلوده چې د کابل د مجددي خاندان خدمتګار به شي. کله یې چې د ثور له کودتا وروسته واک په لاس کې واخیست

د مجددیانو خاندان یې داسې له بیخه ویوست چې یوازې د زانګو ماشومان یې محفوظ پاته شول. نومورې وروسته په ډیره بې شرمۍ د شوروي اشغالګرو د ستاینې لپاره شعرونه وویل چې په یوه برخه کې یې راغلي دي:

شوروي زلمیان د سر او ځان په بیه
د افغان د ازادۍ لپاره جنګ کړي

زوړ انګرپز له دغه غمه لېونی شو
سره اردو په افغانانو باندې ننګ کړي

بل ځل وایي:

دا هماغه شوروي قهرمانان دي
چې په سره لاره د ټورکې قربان دي

سړیتوب ته د دوی لاره مدرسه ده
دوی د یوې ټولنې نه دي، د جهان دي

ښایي شاشجاع به د انګریز هر ډول غلامي کړې وي. مګر هیڅکله یې شاید د انګریز تر دې حده چاپلوسي او مداحي نه وې کړې. مګر سلیمان لائق د غلامۍ او ذلت دغه وروستی ریکارډ هم جوړ کړ چې د یوازیني افغان شاعر په حیث د روسي قاتلانو مداحي وکړه.

مګر په یاد ولرئ چې سلیمان لائق د هماغه مولانا عبدالغني زوی دی چې له انګریزانو د استقلال په ګټلو کې یې بارز رول درلود او د وزیرستان په جګړو کې د ناظم حرب په حیث تاکل شوی و. دا چې ولې زوی د پلار له لارې دومره غلط شو چې د اشغالګرو په وړاندې مبارزه نه بلکې د هغوی مداحي کوي. که ډیر مسؤلیت یې خپله د زوی دی نو یوه برخه مسؤلیت یې پلار ته هم راجع کیږي.

خکه پلار خپل زوی ته تعلیم ورکاوه، مګر د هغه تربیې ته توجه نه کوله. په کور کې یې هغه زوی باله، مګر له کوره بهر یې هغه سرابله پرې اینبی و او په دې یې ځان نه خبراوه چې زوی یې له چا سره کیني او پاخیږي او په کومو مجالسوکې ګډون کوي. همدې بې پروایۍ یې له زوی څخه داسې ښامار جوړ کړ چې نه یوازې د پلار نوم یې وشرماوه بلکې د خپل دین، وطن او ولس په وړاندې یې نه پخلاکیدونکي دښمني ترسره کړه.

د سلیمان لایق دغه سرګذشت د نن زمانې تولو خلکو خصوصاء علماء کرامو، جهادي مشرانو او مخورو ته یو لوی عبرت دی. د دې لپاره که غواړې چې سبا یې خپل زامن په وړاندې خندل نه وي باید تربیې او پالنې ته یې پوره توجه وکړې تر څو خدای مکړه کوم بل غلام مجدد په قاتلِ مجدد باندې بدل نه شي.

ناسمې ارادې او ناکامې پلمې

حسن مومند

دافغان ولس تر څنګ تولـه نړۍ، ددې حقیقت شـاهده ده چې دکابـل پـر واک مسـلط دمادیـاتو او قدرت وګې حاکمانو یواځنۍ هدف دخپل قـدرت دوام اوله دې لارې دښو ډېرو مادیاتو حصول دی.

ددې هدف دحصول په لار کې چې تول اخلاقي اقدار ترپښـولاندې کېږي هیڅ پروا یـې نـه سـاتي؛ اصول اوبې اصولي، مشروع او نامشروع خبرې دوئ ته بې معنی دي؛ او په نړۍ او ولس کـې نـامې اوبد نامي هم ددوئ لپاره کوم اهمیت نه لري.

که اشغال تر سونو کلونو دوام مومي؛ که دولت په فساد کې له تولې نړۍ وړانـدې کېږي؛ کـه پـردی کلتور، فحشـا اوبـداخلاقي تـول هېـواد نیسـي- او کـه دملـت تبـاهي اوبربـادي ترپېړيـو روانـه وي خـو چـې ددوئ واک دوام کوي نو پرې يې باټه هـم نـه رپېږي بلکـې پـرې ښـه خوشـاله دي او دفسـاد، وحشـت او ناخوالو نه ډک همدا حالت د خپل واک د دوام، لـوټېار اوپیسو راټولولو لپاره تر تولو زیات ګټور بولي.

نوځکـه دکابـل دا واکمنـان، نـه دامریکـا او اسلامي امارت ترمنځ دمـذاکراتو طرفـداره وه او نـه يې هم د دواړو اړخونو ترمنځ تاریخي ترون غوښـتلو خو دا چې لاسونه يې لنډ وو او دمخنیوي هـیڅ تـوان يې نه درلودلو نو مذاکرات کامیاب او دکب دلسـمې نېټې تاریخي ترون رامنځته شو.

کلـه چـې دکابـل واکمنـان ددې مهـم تـاریخي ترون د رامنځته کېدو په مخنیوي کې ناکام شول نـو د تـرون دهـوکړې د عملي کېدو پـه مـخ کـې يـې د خندونو ایجادولو هڅې پیـل کـړې چې د بنـدیانو پـه خلاصون کې بهانې يې ښکاره دلیل دی .

ددې ترون له مخې په لسـو ورځـو کـې د۵زره طالـب بنـدیانو ازادول او ورپسـې سمدسـتي دبـین الافغـاني مـذاکراتو پیـل کېـدل دتوافقنـامې رومبـی شرط و نوپکار ده چې اوس د۵ زرو نـه عـلاوه نـور بندیان هم ازاد شوي ،بین الافغاني مـذاکرات پیـل او ډېر پراونه يې وهلي وای، خو تولې نړۍ ولیـدل چې دکابـل اداري لـه لـورې د دوحـې تـرون د غوښـتنې خلاف په بې بنسټه پلمو اوبهـانو ددې پروسـې دخنـډ او پر ولسـي وګړو دبمبار او شپنیو عملیـاتو لـه لارې ددې ترون د له منځـه وړلـوهڅې وشـوې خـو داچـې اسلامي امارت ته ددې ترون پـه بقـا کـې د ولـس او هېواد ډېر لوی خیـر ښـکاربدلو نـو دکابـل اداري لـه لورې دبندیانو په ازادی کې يې تاخیر وزغملـو او دا تاریخي ترون يې له ماتېدو وژغورلو.

دکابل اداري ته چې هیڅ ورپاتې نه شول نو يـې ٦د سوه بندیانو دخطرناک توب خبره رامخـې تـه کـړه؛ دباندنیو چارو وزیر حنیف اتمـر اول داوویـل چـې پـه لسـت کې شامل ٦ سوه طالب بندیان دجنایې اوحقـوقي جرمونو له امله نه خوشې کوي؛ په سبا يې په ډېرې بې شرمۍ دا خبره بدله کړه او ویې ویل چـې هغـه ٦ سـوه کسان چې يې نه پربږدو نړیوال راته وایې چې مـه يـې پربږدی، خکه چې زمونږ عسکر يې وژلي دي.

کله چې دکابل اداره پدې هکله تر نړیوالو فشارونو لاندې راغله نو خان ته د اوړو پوزې ایښودلو په موخه یې دلویې جرګې خبره رامخې ته کړه، ترڅو خلکو ته دا وښایې چې دا د دولت نه بلکې د ولس پرېکړه ده.

د کابل اداري دلویې جرګې په نوم یوه انتسابي غونډه جوړه کړه چې نېږدې ټول ګډونوال یې د کابل اداري اوسني اوپخواني غړي یا طرفداران وو.

دتمې سره سم دې جرګې د بندیانو دخلاصون خبره تائید کړه چې دا په خپل ذات کې نېسه خبره ده پدې کار دجرګې ګډونوالو د ولس دملامتۍ او لعن طعن نه خان خلاص کړ خو برعکس کابل اداره د ولس او نړۍ دسختې ملامتیا او نیوکو لاندې راغله.

نړۍ او ولس پوښتي چې دآزادو شویو څه دپاسه څلور زرو طالب بندیانو په باره کې ولې ولس ته مراجعه نه کېدله او ورته ولې لویه جرګه نه جوړېدله ؟

ولس اونړۍ دا پوښتنه هم کوي چې لست کې شامل ټول ۵ زره تنان چې اسلامي امارت دخپل صف مجاهدین بولي نو دامنې چې زمونږ دملت دبچیانو دقاتلینو اشغالګرو سره یې مخامخ جنګونه کړیدي او طبعي ده چې په جنګ کې مړي کېږي؛ په دوئ کې به دزیاترو په لاس بهرنیان وژل شوي وي نو دبهرنیانو دقاتل او نا قاتل توپیرپه کوم دلیل شوی؟ او کوم بهرني هېواد ویلي دي چې خوشي شویو تنانو کې یو هم خطرناک نه و او نه یې زمونږ کوم عسکر وژلی او پاتې ټول خطرناک دي او ټولو زمونږ عسکر وژلي دي ؟

څنګه بهرنیان پوهېږي چې هغوئ قاتلین ندي او دا پاتې قاتلین دي؟

دبهرني اتحاد مشري خو امریکا کوي چې امریکا دترون له مخې ددې مجاهدینو آزادي ته غاړه ایښې ده نو بل څوک دي چې دکابل اداري نه یې ددوئ دنه خوشې کېدو غوښتنه کړیده؟

اشرف غني او دده دفکر ملګري دکابل ټول واکمنان دې پدې پوه شي چې نور په بربنډو دروغو او غولونکو هڅوولس نه شي غولولی؛ نه ورته کومه حربه ګټه رسولای شي او نه به هم پدې چلونو د ډېرې مودې لپاره په قدرت کې پاتې شي.

دافغانانو دسترو قربانیو په برکت او په سیاسي ډګر کې داسلامي امارت دباتدبیره مشرانودهلوخلو ، معقول دریځ اوپر ځای پرېکړویه نتیجه کې اوس دادی هم له هېواده اشغالګر وځي ؛ اشغال پای ته رسېږي او هېواد ته حتماً سوله، امن او اسلامي نظام راځي، سوله شاید وخنډېږي خوخو پردي پالي یې دخپل قدرت دبقا لپاره مخه نه شي نیولای.

امریکا اومتحدین یې چې په خپل ټول قوت خپلو استعماري اهدافو ته ونه رسېدل او ددوحې ترون لاسلیک ته اړ شول ؛ دهغوئ دنه شتون په صورت کې به یې دلته لاسپوڅې اداره څرنګه د ولس له ارادې خلاف په خپل نامشروع قدرت کې پاتې شي او د ډول ډول پلمو په رامخې ته کولو به په هېواد کې دسولې اواسلامي نظام دراتلو مخه ونیسي؟!

په داسې نا معقوله هڅو او حرکتونو به په ولس کې لا زیات منفور او بې اعتباره شي

نو اوس دا په دوئ ده چې په ولس او نړۍ کې ځان لا زیات منفور کوي او که ځمکني حقایق منې او د اسلامي امارت پرخای غوښتنو او معقول دریځ ته مثبت ځواب وایې .



اشرف غني

يوه بله جګړه هم روانه ساتلې

■ حبيب مجاهد

اشرف غني که له يوې خوا د امريکايانو سره د ستراتيژيک ټرون د امضاء کولو له املې د اشغال او روانې جګړې عامل بلل کيږي او درګرده له اشغالګرو څخه د جګړې د روان ساتلو خواستونه کوي. خو له دې نظامي او وژونکې جګړې سره سره يې يوه بله جګړه هم جاري ساتلې ده. د اشرف غني دا دوهمه جګړه ځکه خطرناکه ده، چې په هغه جګړه کې نوموړی زموږ معنوي اقدار، ديني ارزښتونه، سوچه فرهنګ او اخلاق وژني او د ځوان نسل فکرونه منحرفوي.

تاسو به متوجه ياست چې د اشرف غني په راتګ سره په کابل او نورو ښارونو کې د ښځو بې ستري، د ډېر متوب پروګرامونه، د اختلاط او بې حجابۍ نمايشونه او نور مراسم په مراتبو زيات شوي دي. ورسره په اداراتو کې لوړې او مهمې څوکۍ د لياقت او وړتيا په اساس نه بلکې غربي فرهنګ ته د وفاداری په اساس توزيع کيږي.

د اشرف غني په واکمنۍ کې ارګ له مشرانو او باتجربه کدرونو څخه تصفيه شوی او واک يې هغو ټاميانو، له غربه راغليو نيمه افغانانو او کم عمره نجونو ته سپارل شوی چې له سينګار او مادليزم پرته په بل هيڅ هم نه پوهيږي. له دې ټاکنو سره يو ځای له ارګ څخه د بې ناموسيو، بدناميو او رسوايیو داسې کيسې راووتلې چې قلم يې په ليکلو شرميږي.

اشرف غني اوس هڅه کوي زموږ د ديني اقدارو او سوچه فرهنګ پر خلاف د پيل کړې جګړې لمن ولاياتو ته هم وغځوي. نوموړی په وروستيو کې په ولاياتو کې کم عمره نجونې د والي د مرستيالانو په حيث ټاکي. او په ځينو ولاياتو کې يې د پوليسو مهمې وظيفې داسې نجونو ته سپارلې دي چې کوائف يې يوازې له فلمي بازيګرۍ سره جوړيږي. دا ټول څه تصادفي نه دي بلکې د زموږ د دين، فرهنګ او ټولنيز اخلاقي جوړښت په وړاندې د يوې بلې جګړې پيل دی. چې ښځو ته د حق ورکولو تر عنوان لاندې ترسره کيږي.

که د ټپر استعمار تاريخ را وسپړو، نو هغه مهال هم اشغالګر هغه وخت له

مستعمره هیوادونو ووتل چې کله یې په اشغال شویو ټولنو کې هم فکري او فرهنګي زهر وشیندل. هغوی یې په خپل رنګ ورنګول. خپل عادات، افکار، قوانین او د ژوند اصول یې ورباندې تحمیل کړل او هغوی یې په فکري او فرهنګي ډول اشغال کړل. نو ځکه که اوس له اکثره اسلامي هیوادونو اګر کې انګریزان وتلي خو پرنګیتوب تړې نه دی وتلی. اوس یې هم قوانین، معارف، حکومت او ټولنیز اخلاق په پرنګي رنګ ککړ دي او لندن خپله فرهنګي او فکري قبله ګڼي.

له افغانستانه چې اشغالګر د تیښتې په حال کې دي نو اوس یې د وروستي فرصت په حیث خپل فکري او فرهنګي فعالیت ته زور ورکړي، تر څو که وتوانیږي په دې لنډه موده کې ډیر کار وکړای شي. نو ځکه اشرف غني د اشغالګرو په فرمایش درګرده د بې حیاء بڼځو د ټاکلو، تشهیر او مطرح کولو کوښښونه کوي. ورسره یې په رسنیز ډګر کې هم دې تبلیغاتو ته زور ورکړی باید د ۱۹ کلن اشغال د وخت لاسته راوړنې (!) وساتل شي.

د دوی لاسته راوړنې په اصل کې هغه څه دي چې زموږ د مؤمن ملت لپاره د خسارانو معنی لري. ځکه دوی زموږ ملت ته یوازې بې حیایي، حرامخوري، اختلاس، ظلم، غصب، سود، قمار، اخلاقي جرائم او نورې بدمرغۍ راوړې دي. او اوس غوښتنه لري چې دغه بدمرغۍ دې له اشغال وروسته هم پاتې وي.

په دې حساسه مرحله کې زموږ مجاهدین لکه څنګه چې له دښمن سره نظامي برخورد ته توجه لري، د فکر، قلم او فرهنګ د ډګر مجاهدین او مبارزین باید د دښمن فرهنګي تهاجم ته بیدار واوسي. د اشرف غني او نورو سیکولرانو مضر فعالیتونه باید یو یو رسوا او ټولنې ته ورمعرفي کړي تر څو یې په خپل وخت مخه ډب شي.

د اسلامي ټولنې ځوان کهول ته!

فضل المنان سعيد

د اسلامي مبارزو تېر څوارلس سوه کلن بهير کـه دقيقاً وڅارو، نـو وينو چې د قرآن او سنت د تنفيذ، اعـلاء کلمـة الله، اسلامي حاکميت او استقلال د ترلاسه کولو په موخه تر هرچا وړاندې، ځوان کهـول هغـه ځـوک دی چې ځاني، مالي، قلمي، او هرارخيزې قرباني ته چمتو شوی دی.

ځوان په هر زمان او مکـان او د تـاريخ په ټولـو پراؤنـو کې آن تـر دا مهاله چې مور په کې ژوند کؤو د اسلامي امـت د پاڅون رمـز او د هغـه د ځلانده تمدن د پرمختګ لامل ګرځېدلی، د اسلام د سپېڅلي دين د سـترو ارزښتونو د حفاظت او بريا په ډګر کې د ځوان رول ترهرچا بارز اوسيدلی.

ځوان کهول په حقيقت کې د يو ملت روح، ځپانـده او ګرمـه وينـه، خوځنـده او متحـرک زړه، ټينګ عـزم او کـوتلې اراده او تانـد خـواک بلل کيږي، ځوان د ټولنې په نما، ارتقا او بقا کې د ملا د تير حيثيت لري.

خو په اسلامي ټولنه کې دا ټول څه هلـه واقعيـت مونـدلای شي چې کله دا ټولنه، سالم ځوان نسل ولري. که چيرې د ټولنې ځوان نسل ثابت او سالم و اوسي؛ هرو مرو به يې د خپلواکی، ملي هويت، اقتصادي، کولتوري، سياسي، نظامي ټولنيز او علمي توان ژوندی واوسي، دوام به پيـدا کـړي، او که خبره برعکس وي، نو حتمي به دا ټولنه له ناخوالو، ستونزو او بالآخره له ناکامی سره مخ کيږي، آن د خپل شتون د دوام لـه لانجې سره بـه لاس او ګرېوان شي.

لکه وړاندې چې مو وويل ځوان نسل د ټولنې د ارتقا او بقاء پـه لاره کې د ملا د تير حيثيت لري، دا ځوان نو کله د خالـد بـن وليـد پـه توګـه د مدينې غوندې کوچنۍ رياست د نړۍ ستر رياسـت جـوړوي، او د نـړۍ د سترو فاتحينو په لړ کې ځان شاملوي، کلـه د ۱۷کلـن محمـد بـن قاسـم پـه شکل د يوې مظلومې خور د آه او فرياد په اوربدلو سره سـيند کـې د راجـه داهر په وړاندې د جهاد بيرغ اوچتـوي، کلـه بيـا د احمـد شـاه ابـدالي پـه صورت کې د هند د مرهټيانو نوم او نښـان ورک کـوي، کلـه بيـا د شـهاب الـدين غـوري پـه بنـه د هنـد مغـرور غرونـه د تکبيـر پـه ملکـوتي او هيبتـي نعرو لړزوي، کله بيا د طارق بـن زيـاد او موسـی بـن نصـير پـه شـکل کـې د اسلامي خوځښت د سرلـوړی پـه پـار توره پورته کوي، هسـپانيه فـتح کـوي، کله بيـا قـيس ابـن مـروان شي، افريقـا کې د توحيد توغ لوړي.

او کلـه بيـا د اميـر المـؤمنين، عمرثالث، بـت شـکن، ملا محمـدعمر مجاهد په توګه، ملوک الطوايفي، شر، فساد، ظلم او استبداد ته د پـای ټکـی ږدي، د اسـلام د حاکميـت لوبـدلی بير غ يوځل بيا راپورتـه کـوي، لـه ګـرد اوغبار څخه يې ځندي، د آسـيا پـه زړه کې يې ښخوي، د يـو داسـې سـپېڅلی اسلامي نظام بنسټ ږدي چې د وخت مؤرخين او مفکرين ورته ګوته په غاښ پاتې کيږي.

دا چې اوس زمـوږ د عصر ځـوان کهـول تـه څـه کـول پکـار دي چـې لـه ځوان نه يـو بريـالی او ژمـن شخصـيت جوړ شي؛ غواړم په اړه څو ټکـي درسره شريک کړم:

د دې لپاره چې د اسلام دښمنان، خصوصاً د لوېدیځ لیبرل او سیکولر فکر د خپلو مستشرقینو په مټ هڅې کوي چې د مسلمانانو دغه خواک (خوان نسل) بې لارې کړي، د ملاتیر په ماتۍلو سره مسلمانان ناتوانه او بې وسه کړي، ترڅو خپل شوم او ناولي اهداف تر لاسه کړي.

دې مقصد ته د رسېدو په موخه لوېدیځوالو د مسلمانانو په خلاف تر نظامي پرغل وړاندې فکري، عقېدوي، او نفسیاتي پرغل ته مخه کړې، په دې برخه کې یې ډېرې حربې وکارولې، ترڅو مسلمانان له خپلو دیني ارزښتونو څخه زړه تورې کړي، دوی خپل ټول توان او انرژي صرف کړه، خو د متعال څښتن په فضل سره مطلوبې برېا ته ونه رسېدل. ورپسې یې په یو او بل نامه پر مسلمانانو نظامي پرغلونو ته ملا وټرل، ډېرې مسلماني وینې یې وبهولې، ډېرې ککرۍ یې ترخاورو لاندې کړې.

خو په مقابل کې یې د ویښو مسلمانانو په زړونو کې د مقاومت حماسې، د انتقام اوغچ ولولې، د برېا او ښېرازۍ جذبې نورې هم را ژوندۍ او ګرندۍ شوې.

بالأخره دوی پوه شو چې د ککریو په خاورې کۍلو سره برېا نه ترلاسه کیږي، بلکې سل نورې ککرۍ خاورې کېدلو ته تیارېږي.

اروپا پر اسلامي نړۍ د فکري پرغل خیال په دیارلسمه لسیزه کې پر فوځي محاذ د بېا بېا ناکامۍ وروسته وکړ. دې سنګر کې یې ټول توان او وس صرف کړ، چې تر یو بریده یې موقتي کامیابي هم ترلاسه کړه.

ځوان او خواله رسنۍ:

د فکري جګړې ډېر سنګرونه دي، چې تر ټولو مؤثرهغه یې عامې رسنۍ او سوشل مېډیا ده، چې په مټ یې خپلې ناولې طرحې او شوم پلانونه، پرمخ وړي.

دا ځکه ډېر موثر سنګر بلل کیږي، رسنۍ چې وغواړي کوم فکر ته تعمیم ورکړل شي، هغه عوام په پټو سترګو مني او بېا یې خپلوي.

په همدې آساس مورِ ویلی شو چې مېډیا نن سبا د فکري جګړې هغه وسله ده چې په وسیله یې دښمن د مسلمانانو کور ته لاس رسی پیدا کړی، د هغوی د افکارو، تهذیب، او ثقافت نقشه بدلوي، هغوی خپل ملګري خواخوږي، همغږي جوړوي.

غرب چې د داسې یو تهذیب استاخیتوب کوي، چې هغه له اسماني ښوونو او اخلاقي اصولو څخه بلکل عاری دی، د اسلام په وړاندې یې مېډیا په کار اچولې، هغه مسلمانه ټولنه چې اساس یې پر شرم او حیا دی، نن د مغرب له لوري د شخصي ازادي رابوتهبدلو کړیکو پر اسلامي تهذیب بې باوره کړې، د بالیوډ او هالیوډ فلمي نړۍ چې لومړی هدف یې مادیات پرستي، شتمني، ښځې او شهرت دی؛ مسلمان ځوان ته د ماډل او نمونې په توګه وړاندې کېږي.

له کومې ورځې چې د رسنیو بازار ګرم شوی؛ ترننه یې داسې موضوعات وړاندې کړي چې زیات یې د انسانانو ترمنځ د اختلاف، پاشلتیا او کرکې سبب شوي، تل دا هڅه شوې چې بې مانا غیر اړین او د فحش او فساد موضوعات شایع کړي، ځوانه طبقه ځې داسې بوخته ساتلې چې د ژوندانه له اصلي مقاصدو ځې غافله کړي.

د رسنیو په لړ کې اکثریت داسې دي چې له سترو سترو حقائقو سترګې پټوي، له سترو سترو پېښو به نظر واړوي او یوې وړې پېښې ته به دومره اهمیت ورکړي چې د کتونکو په زړونو کې به نقش جوړ کړي، د هر مجلس او غونډې سوژه به تري جوړه کړي، ځوان، سپین ږیری، ماشوم او ښځه به د هغې موضوع باربار یادونه کوي، او د ژوند خوږې لمحې به د بې فائدې او خوشې موضوعاتو په بحث تیري کړي.

ځوان او مادیات پرستي:

د هغو خطراتو له جملې نه چې باید ښه یې درک کړو؛ یو هم هغه ګې شمېره پلانونه دي چې د صهیونیزم، ماسونیت، صلیبیت، کمېونیزم، تبشیر او استعمار... په ځالو کې د اسلامي نړۍ پرضد جوړېږي، د دې پلانونو هدف د شرابو، ښځو، بې بندوباریو او کورکورانه تقلیدونو له لارې د اسلامي ټولنو خرابول دي، چې د دې دسیسه

جوړۈنکو په اند ښځه د دې اباحي دعوت او له مکره ډک ډګر لومړنی هدف دی، ښځه هغه ضعیف عاطفي عنصر دی چې بې له کوم فکر او عمل نه د تبلیغاتو، غولۈنو او فتنو په مخ کې قرار نیسي، چې په دې ډول د اخلاقو په فاسدولو کې مستقیمه اغیزه لري.

که پر اسلامي تاریخ یو څلنده نظر واچول شي، باطل قوتونو تل مسلمانان د ښځو په جال کې را ګیرولو هڅه کړې، چې کله هم مسلمانانو جګړه کې د کفارو سرونو په تیز او تند انداز بهلۈل پیل کړل هغوی ښځې د وسلې په توګه کارولې.

د مکې قریشو نبي علیه الصلاة والسلام ته د هغوی ترټولو له حسینې پیغلې سره د واده پیشنهاد وکړ.

صلیبیانو د صلاح الدین ایوبي ورور ته د پاچا له لور سره د نکاح وړاندیز وکړ، یهودیانو خپلې لونې د عثماني خلافت خلفاؤ ته تحفه کې وړاندې کړې، هندوانو خپلې تر ټولو ښکلې او جمیلې پیغلې قطب الدین ایبک پښو کې ۋغورځولې.

د فاجرو ماسونیانو یو تن مشر وایي:

"پر موږ لازمه ده چې ښځه په خپل واک کې واخلو، هره ورځ چې دهغې لاس موږ ته اوږدېږي، نو د حرامو په وسیله پر خلګو بری مونډو، او د دین مرستیالې لښکرې له تیت او پرکتوب سره مخ کېږي"

د ښکېلاکګرو له ډلو ټپلو نه یو بل پېژندل شوی محوري شخصیت وایي:

"هغه اغیزه چې شراب او ښځې یې د محمدي امت په ماتۈلو کې لري؛ سل جنګي توپونه یې هم نه لري، نو دوی د مادیت او شهواتو په مینه کې ډوب کړئ"

کشیش زویمر په ۱۹۳۵ زېږیږ کال د القدس په جبل الزیتون کې د عونډې ګډونوالو ته وویل:

اسلامي نسلونه داسې وروزل شول چې استعمار یې غواړي، دا نسلونه د استعمار له غوښتنې سره سم لویږ کارونو ته مخه نه لري، راحت غوښتونکي شول، دهغوی په وجود کې تنبلي او لټې خالې جوړه کړې، هغوی زیار باسي چې په هره وسیله کېږي، خپل شهواني غرایز پوره کړي، آن چې د نفساني خواهشاتو اشباع، د هغوی د ژوند ستر هدف ګرځېدلی.

د کمونستانو په څېنو وڅایقو کې موندل شوي، چې دوی وایي، ادیان له مینځه وړل؛ د جوماتونو او کلیساګانو په له مینځه وړلو نه کېږي؛ ځکه دین په زړه کې ریښې لري، موږ د مسلمانانو له سینو نه دین پاکۈل غواړو چې دې هدف ته هغه وخت رسېدلای شو چې د کمیونیزم په تسلط کې بریالي شو.

نه یوازې دا بلکې لوېدیځ د بشریت فاسدولو په موخه منظم پروګرامونه لري، د رادیو، تلویزون، نشراتي مرکزونو، تمثیلي صحنو، او نندارتونونو او همدارنګه د هر اجیر خاین او مزدور لیکوال په مټ یې د دې پروګرامو تطبیق ته ملاوې تړلې دي...دوی توانېدلې چې په خپل خاص مکر او خبث سره د عامیانه فرهنګ، فنون د تفریح وسائل او فاحش خانو له لارې ملتونه د تباهۍ او فساد خوا ته سوق کوي.

دا هغه ښکاره پلانونه دي چې د یهودیت، صلیبیت، فراماسون، تبشیر، او استعمار په ځالو کې د اسلام او مسلمانانو پر ضد جوړېږي، ښکاره خبره ده چې د دې پلانونو هدف لکه چې وراندې مو نفوته ورته وکړه، د اسلامي ټولنو فاسدول، اسلامي هیوادونو باندې تسلط، او جهادي جبهو ته له ورتګ نه د مومن نسل ایسارول، مسلمانان په لادیني خوځښتونو او احزابو کې شاملول، هغوی د الحاد او انحلال په دلدل کې ډوبول دي.

ځوان او پردي پال لیکوالان؟

دا چې دښمن له ډېرو مورچلونو حمله آور دی، او کاري وسله یې هم د مسلمان په جامه کې هغه فکر پلورونکي اجیران لیکوالان دي چې قلمي منټر لري، ساحرانه انداز لري، هر څومره د مظبوطې او سوچه عقیدې څښتن چې یوځل د هغوی لیکنې ولولي او یا واوري؛ نو د دهن پر پاڼه به یې داسې نقش

پرېږدي چې بيا يې ږنګول ورته ناشوني وي.
دوی عالمان، ادیبان ګمارلي (یاده دي وي چې د عالم فساد د ټولنې فساد دی) چې واقعیتونه برعکس منعکس کړي، تاریخ مسخ او ارزښتونه تحریف کړي، د مسلمان باشهامته ولس څخه د حیا، عفت، خپلواکۍ انرژي وتروړي، او بدل کې ورته بې حیایي، نفاق او بربنډتوب وړاندې کړي.

ځوان باید څه وکړي:

مسلمانان ځوانان پرته له دې بله کومه لار نه لري چې د نړیوال یهودیت، صلیبیت او کمیونیزم خطرناکو توطیو، پلانونو ځانګړي او بېلابېل ابعاد درک کړي او د همدې دسیسو انګیزې لاملونه ښه وپېژني.

ځوان باید هغه اوزار وسایل چې دا شوم مثلث او لاسپوڅي یې په سیاسي، اقتصادي او ایډیالوژیکي جګړه پر مخ وړي؛ ښه درک کړي.

ځوانان باید د استشراق او استعمار اړوند زیات مالومات ترلاسه کړي، او همدارنګه د استشراق اهداف د هغه د کار وسایل او د شرقیانو د فرهنګي میراث په بیا ژوندي کولو کې د دوی ګډون او همدارنګه د مستشریقینو لیکې او آثار او د دې اثارو د علمیت درجې او په اسلامي نړۍ کې د دوی زهر شیندنه او هلې ځلې دقیق مطالعه کړي.

زما په اند کله چې ځوانان د دې ټولو توطیو ځانګړي ابعاد او اړخونه درک کړي، او د دې پلانونو د تنفیذ الات او اسباب پیدا کوي همدغه پېژندنه او شعور د اصلاح لپاره د دوی غورځنګ ته قوت ورکوي، او هغه د پیاوړتوب په لور چټک ګامونه اخلي، او اسلامي احساس ورو ورو نمو کوي، ریښې ځغلوي، او په تدریجي ډول د کمال تر ټولو لوړې څوکې ته لاس رسوي، او د ځښتن په لور د بلنې کار او خوښښت لا مثمر ګرځي.

له تاسو اسلامي امت ډېر ځوښتنې پوښتنې لري، نن یې سینه زخمي ده، پرې پرهرونه لري، نن یې د امیدونو محور او مدار تاسو یئ، نن ایوبي نه لري چې اقصی ته لبیک ووایي، او له کافرو قوتونو څخه یې وژغوري، نن محمد بن قاسم نه لري چې دښمن یې تیت او پیت کړي، نن هارون الرشید نه لري چې قلمرونه یې تر هند، ترکستان او د ختیځ له پلوه د چین تر پولو او د لوېدیځ له لورې تر اندلس پراخ کړي، نن بت شکن محمود غزنوي نه لري چې سومنات اوه ځلې ګوابې، د کفر ایوانونه لرزوي.

نن یې نبض ورو ورو په وچېدو دی، نن تاسو ته سترګې په لار دی، نن یې له تاسو تقاضا او تمنا داده، چې مسئولیت سر ته ورسوئ، خپل نقش ولوبوئ، د سرکښه مادیت له تروړمیو نه، د بې بندوباري او خپلسري الحاد او بې لاریتوب له څپو او جاذبو نه اسلام ته خصوصاً او د بشریت نړۍ ته عموماً نجات ورکړئ، ټوله نړۍ د حق او عرفان رڼا ته، د توحید نور ته، د ایمان ډېوې ته، او د اسلامي لمر پلوشو ته هدایت کړئ.

ترڅو ستاسو د زیار او پرلپسې کار ستاسو د ځان ځاروني او خوښښت ستاسو د پرېکنده او غوڅ تصمیم له امله د مسلمانانو تېر پرتم او عظمت بېرته اعاده شي، تر څو تاسو د ملتونو برخلیک وټاکئ، د بري هغو لوړو پوړیو ته یې ورسوئ چې ښایي.

ځوان ته پکار ده چې د ژوند هدف وپېژني، هغه خطرات او ستونزې درک کړي چې اسلامي هیوادونه یې کلابند کړي دي، ځوان باید د مخکښو تاریخي اشخاصو د مسیر پلوي او تقلید وکړي.

راځئ! نور په غفلت ویده خوب پرېږدو، هدف وپېژنو، په لوري یې چټک ګامونه واخلو.

راځئ! لکه څنګه چې مو په وسلواله مبارزه کې د نړیوال استبکاري طاغوت، عالمي صلیبي ځواک ملا ماته کړه، ایډیالوژیکي مبارزه کې یې هم له تلپاتي ماتې سره مخ کړو.

راځئ! د غربي نړۍ صلیبي ټلوالي هره دسیسه ړنګه، هره توطیه شنډه کړو.

راځئ! یو غږ او یو قوت شو، دوست وپېژنو ملاتړ یې وکړو، دښمن وپېژنو مقاومت ته یې چمتو شو.

کنه نو د ځوان کهول له مسیر نه په چپېدو د اسلامي ملت بېړۍ وچې او ساحل ته پوري باسل، به یو خیال، محال او جنون وي.

نسلونه په عادتونو پيژندل کيږي...!!

په ژړه پورې ګيسه کې

ژباړه: م. فرهاد

پخوانيو زمانو کې د بادشاه دربار ته يو ناپيژاندی وګړی راغی، په دې هيله چې کومه نوکري يا وظيفه ورته پيدا شي. د باچا په وړاندې حاضر کړل شو، هغه يې د ورتيا او قابليت پوښتنه وکړه، ده ورته وويل: سياسي پوهه لرم، کولای شم ستا سره په سياسي امورو کې مرسته وکړم، يعني ستا سياسي مشاور به شم.

خو څرنګه چې له باچا سره له وړاندې لا د سياسي مشاورينو کمی نه و، سمدلاسه يې هغه ته وويل چې زما سره يو بست خالی دی، او هغه د آسونو د طبيلې مسئوليت دی، که د آسانو پالنه کولای شي، نو بس مقرر شوي، او که نه نو په مخه دې ښه.

سړي چې فکر وکړ، هسې هم بې روزګاره يې نو يې ورسره ومنله او د طبيلې (د آسونو ساتنځای) مشر مقرر شو.

څو ورځې پس باچا له نوموړي نه د خپل يو ډير ګران آس په اړه وپوښتل چې دا څنګه آس دی؟ هغه په جواب کې ورته وويل باچا سلامت، آس خو ښه دی مګر نسلي نه دی.

باچا حيران سو، او له څنګل نه يې هغه څوک را وغوښت چې دا آس يې ده ته لومړی را وستی و. له هغه نه يې وپوښتل چې دا آس خو نسلي نه دی، دا ولې؟ ما په دې سر پوه کړه څه مسئله ده؟

هغه ورته وويل: چې نه خير، باچا سلامت! آس نسلي دی، مګر خبره داسې ده چې د دې آس مور د هغه له پيدايښت سره هم مهاله مړه شوه، بيا موږ دا آس د غوا په شيدو را لوی کړ.

باچا بيرته هغه د طبيلې نوی مشر را وغوښت، له هغه نه يې وپوښتل؛ ته څه پوه شوي چې دا آس أصيل او نسلي نه دی؟

سړي ورته وويل: اصيل آس داسې وي چې کله خوراک کوي، نو وانه په خوله کې را واخلي سر پورته کړي، خوراک کوي، خو دا آس د غوايی په څير خوراک کوي، سر يې په اخور کې اچولی وي وانه خوري.

باچا د نوموړي له فراست او خيرکتيا نه ډېر متاثر شو.

سمدستي يې خادمانو ته امر وکړ چې د سړي کور ته غنم، غوړي، پوسونه، او د مرغانو غوښې د انعام په ډول وروړی. د دې ترڅنګ يې سړی د آسونو د طبيلې له مشری را بدل کړ او د ملکې د مانۍ مشر يې مقرر کړ.

څو ورځې پس بيا بادشا هغه را وغوښت او د خپلې ميرمنې ملکې په اړه يې وپوښت چې څنګه ملکه ده؟

ده ورته وويل: باچا سلامت! طرز و انداز يې د ملکې دی خو شهزادګی نه ده. يعنې د باچا ميرمن ده، خو د باچا لور نه ده.

باچا بيا هيڅ پاتې سو، او خپله خوابنې ، د ملکې مور يې راوغوښته چې په دې راز مې پوه کړه، آيا دا رښتيا شهزادګی ده کنه؟

هغې ورته وويل: باچا سلامت! حقيقت داسې دی چې ستا پلار راغی او زما له خاوند څخه يې ستا دپاره زما لور په داسې وخت کې وغوښته چې هغه فقط د څو مياشتو وه، مګر شپږ مياشتې وروسته هغه انجلۍ مړه شوه، مورږ مجبور شوو د يو چا لور مو په زېردستې يا چل ول د خان لور کړه او بيا چې غټه سوه، تاسو ته مو در واده کړه

باچا په کيسه پوه شو او بيا يې هغه سړی راو غوښت چې ته څنګه په دې راز پوه شوې؟ سړی ورته وويل: له خادمانو او خادماتو سره د دغې نېغې سلوک داسې دی، لکه د جاهلانو، بلکې تر هغوی هم بدتر چلند ورسره کوي، او دا دول چلند د شهزاده او شهزادګی عادت نه وي.

بادشاه بيا د هغه فراست ته حيران پاتې شو، او نوکرانو ته يې امر وکړ چې د مشاور کور ته مخکنی انعام دوه چنده ورسوی. او ترڅنګ يې نومورې د ملکې له درباره را بدل کړ او د خپل شاهي ګارد مشر يې وټاکی.

څه موده پس يې بيا را وغوښت، او د خپل خان په اړه يې ورته وپوښتل، چې زما په باره کې دې رايه څه ده؟

هغه ورته وويل: باچا سلامت ! که زما سر ته امان وي، خو رايه ويلای شم کنه وي، نه يې شم ويلی.

باچا ورسره ژمنه وکړه چې ستا سر ته به امن وي.

مصاحب ورته وويل: نه خو ته باچا زاده يې او نه دي چلن د بادشاهانو دی.

پرباچا د غصې له امله خمکه وګرځيده، مګر خو د سرساتنې يې عهد يې له وراندي لا کړی و. خان يې کابو کړ، او سمدستي ولاړی خپلې مور ته يې وويل: ما د خپل ذات په اړه پوه کړه، زه څوک يم؟

مور يې ورته وويل: دا خبره رښتيا ده، ته د يو شپونکي زوی يې، څرنګه چې زمورږ اولاد نه و، ته مو له يو شپانه څخه په خواست وغوښتلې متبنې مو کړلې او بيا را غټ سوې، باچا سوې. نو ته رښتيا باچازاده نه يې.

باچا پوه بيا يې هغه مشاور را وغوښت، ورته ويې ويل: ته څه پوه شوې، چې زه باچازاده نه يم؟

هغه ورته وويل: بادشاه چې چا ته انعام يا سوغات ورکوي، نو سره سپين، ملغلرې او جواهرات ورکوي، خو تا به ما ته په انعام کې پوسونه، اوزې او د خوراک څښاک سامان را کاوه. چې د باچا له شان سره مناسب نه وي، بلکې د يو شپانه زوی داسې کولای شي.

عادتونه د نسلونو په پيژندنه کې ستر رول لري. عادات، اخلاق، چال چلند د ويني، رنګ او نسل د پيژندنې اساسي وسيله کيدای شي.

پای .....!

په ازره کې امریکایي وحشیانو

د یوې کورنۍ دوولس غړي څنګه ووژل؟

قاسم محسن ازره وال

دغه وحشي او دردناکه پېښه په ۲۰۱۲ کال کې د لوګر ولایت د دازرې ولسوالۍ د دره تنګ دخرابې په کلي کې هغه وخت رامینځ ته شوه چې کله امریکایي عسکرو دخرابې په ټول کلي چاپه واچوله.

دغه کلی زموږ کلی ته څېرمه پروت دی.

دامریکایانو هدف او چاپه په څلورو تنو هغو مجاهدینو وه،چې په ننګرهار ولایت دګندمک په سیمه کې یې تر دې مخکې ګڼ شمیر امریکایي عسکر سره له امریکایي ښځینه فوځیانو یو ځای وژلي وو. او اوس یې دلته پناه راوړې وه اوله امریکایي عسکرو یې توپکونه هم نیولي وو.

امریکایان دغې پېښې سخت په قهر کړې وو، یوځل یې له دې وارندې دګندمک په سیمه کې د ستر پلان له مخې په همدغو مجاهدینو چاپه واچوله،داچې مجاهدین دامریکایي وحشي فوځیانو قاتلان وو،هغوي پوهیدل چې دا قسم پېښه به رامنځ ته کیږي،نو وار له مخه ورته ماشه په ګوته ناست وو.

امریکایان چې څنګه سیمې ته ورسیدل د مجاهدینو په ریموټي بمونو او کمین کې ښکیل شول داځل یې له تیر ځخه سخته ضربه وخوړه،بیا هم ګڼ شمیر امریکایي فوځیان مړه او ژوبل شول،ایله یې تر سهاره خپل مړي او ټپیان انتقال کړل.

مجاهدینو خپله ساحه د خپل مشر- تابه په امر پریښوده، او بلې سیمې ته لاړل،امریکایانو دغلته هم چاپه پرې واچوله،خو داځل هم

امریکایان مړه اوژوبل شول او چاپه یې ناکامه شوه،مجاهدین له چپې روغ ووتل.

داخل دغه ځلور تنه مجاهدین دمصطفي په شمول د خپل مشر تابه له حکم سره له ننګرهار ولایت څخه دلوګر ولایت ازرې ولسوالۍ زمور کلي ته پناه راوړه. ترڅو له چاپو خوندي شي.

دلته دوی ښه ډاډه شول،چې نور نو دلته څه نشته،خبر نه وه چې خپل افغان اومسلمان ورور به یې صلیبي وحشیان سرته ودروي. خو داخل مجاهدین له چاپې ژوندي ونه وتل!

په ۲۰۱۲ کال په همدې شپو او ورځو کې چې د اوړي موسم وو امریکایې عسکر دلوګر ولایت ازرې ولسوالۍ دخرابې کلي ته د قوي جاسوسي په مټ دشپې ناوخته راغله.

مجاهدینو سرپنا زمور کلي کې داسې سیمه کې اخیستې وه چې دتنګ په نوم یادیږي،په منځ کې یې لوی سیند بهیږي،مجاهدین دشنو باغونو په منځ کې په یوې پټې حجرې کې وو.

یو ډیر ښه مناسب او پټ ځای و.

امریکایانو دشپې په مهال له سیمې لرې لرې خپلې چورلکې کینولې او له هغه ځایه څخه راپایده شول.

په مخ کې یې دوه تنه مسلمان افغان راون وو، امریکایان یې په رسا لارو همدغه کلي ته بیول.

په داسې حال کې چې دغه ځای دهمدې علاقې خلک هم په توره شپه کې نه شي پیدا کولی او نه دغه ځای معلومولی شي.

دکلی یو اوسیدونکی وایي چې دشپې په مهال دسپو غپه ډیره شوه مصطفی خپلو ملګرو ته وویل،چې دا قسم سپي امریکایانو ته غاپي ملګرو یې خبره رد کړې وه.

دوی ویده وو چې امریکایي عسکر د دوی په بام ولاړ وو، او چورلکو بد حال جوړ کړی و.

مصطفی خپلو ملګرو ته وویل که جګړه کوو دکلي خلکو ته مرګ ژوبله اوړي، ملګری یې ورسره خبره مني همدلته له مقاومت څخه لاس په سر کیږي، خو د امریکایانو جاسوس ورته غږ کوي چې بهر راوځئ او دروازه خلاص کړئ وژنو مو نه.

مصطفی چې د همدغو مجاهدینو مشر و،تر چنار دنګ و ښکلې ځنړې اوښایسته ځوانې یې لرله،پوهیده چې دشهادت شیبې نږدې دي.

مصطفی سره له ملګرو په داسې حال کې دروازه خلاصوي او بهر راوځي،چې له ګرنټ څخه یې کیلي لرې کړي او لاس کې یې پټ نیولې،امریکایان پرې راتولویږي امریکایان د مصطفی انځور راخلي، کله دمصطفی انځور ته ګوري او کله مصطفی ته جاسوس ورته وایي چې همدا مصطفي دی، امریکایان مصطفی او ملګري یې په سر باندې ولي،کله چې مصطفی په سر باندې

لږيږي، هغه ګرنټ چې پټ په لاس کې نيولی و خلاصيږي، او دروند انفجار رامنځ ته کيږي مصطفی له شهادت وروسته هم دځان او ملګرو انتقام واخيست بيا يې هم ګڼ شمير امريکايي عسکر مړه او ژوبل کړل.

دسيمې اوسيدونکي وايي چې امريکايانو له چاودنې وروسته سمې چيغې شروع کړې،سهار چې شو تر هغه ځايه په لار کې د وينو قطارونه وو،په کوم ځای کې يې چې خپلې چورلکې ناستې وې توله لاره په وينو سره وه دامريکايي وحشيانو د زخميانو وينې وې.

له دې پيښې وروسته امريکايان د هفه کور انګړ ته داخليږي چې مجاهدو طالبانو ته يې شپه ورکړې،

دحاجي وکيل دکور دولس۱۲ تنه غړي ميرمن او ماشومان يې واړه ځامن او لورګانې په ډير ظلم سره په شهادت رسوي، او خپله حاجي وکيل هم زخمي کيږي، حاجي وکيل وايي زخمی وم په همدې حالت کې راته يو افغان کمانډويې راغی راته وايې چې پنجابيانو ته شپې ورکوې همدا به دې حال وي. وخ وخ.

د حاجي وکيل په کور کې خپله حاجي وکيل او يوه کوچنی لور يې چې دواړه زخميان دي ژوندي پاتې کيږي،نور دکور ټول افراد يې په دې جرم په شهادت ورسول شول،چې ولې دې طالبانو ته ډوډۍ ورکړې.

زمونږ په کلي کې هغه مهال کربلا جوړه وه،دکور په انګړ کې دوينو سيلابونه روان وو، دلويانو او کوچنيانو چيغې او سلګۍ وې.

که سړی فکروکړی چې دا بدبخته امريکايي وحشي عسکرپه کوم اراده ديوه عام افغان ځخه دومره انتقام اخلي چې زوی پلار ،مور اود کور ټول فاميل اوحتی دټول کليوالو په مخکې په سپيو خوري ،صرف په همدې جرم چې تا يو مجاهد او مسلمان ته شپه ورکړې.

زمورږ دشهيدانوکرامت!

غرمه مهال د مصطفي ملګري له خوګيانو ځخه راغله مصطفی او د يو بل ملګری جنازه يې د ډډسن موټر په بادې کې داسې مهال کيخودې چې لاندې يې ورته توشکونه واچول او له پاسه يې کمبله پرې واچولې!

خوګيانو ته په رسيدو سره سم چې ګورې دواړو شهيدانو غيږ او لاسونه ورکړی،خلکو چې هر څومره وسه پورې وکړه نه کيده

تر دې چې دواړه يې په يو قبر کې ښخ کړل.

تر شهادت درې کاله ورسته دهغه يوې کورنۍ غړي چې قبرونه يې بارانه يو څه زيانمن کړل،حاجي وکيل او د کلي خلکو بل ځای ته انتقالول له ټولو ځخه تازه وينې روانې وې او روغ جوړ وو... سبحان الله

روح دې شاد او يادونه دې تل ترتله پاتې وي.

له شهیدو اجسادو انتقام

د جنایت او قساوت انتها ده !!

■ عبید. ت

په بېروحه جسد د خوږلې ماتې جوش سړول د بېغیرتی او په تېرونو وهل یې د سنګدلی وروستی حد بلل کېدای شي – او د اسلامي امارت د مجاهدینو په مقابل کې په همدې صفتونو موصوف دښمن ولاړ دی .

په خواله رسنیو کې په یوه تازه خپرې شوې ویډیو کې د کابل اداري عسکر بنکاري چې د څو شهیدو مجاهدینو د بدن پر غړو او سروښو د تېرونو ګوزارونه کوي. ویل کیږي د رژیم عسکرو دا وحشت د زابل په ارغنداب ولسوالی کې له مجاهدینو سره تر جګړې او په بمبار کې د څو طالبانو تر شهادت وروسته کړی دی .

ویډیو دومره زړه بوږنوونکې وه چې کتلو یې هم په ویډیو کې د بنکارېدونکو مجرمینو په څېر کلک او له انساني عاطفې خالي زړونه غوښتل. کابل رژیم د ویډیو او عاملینو په اړه د پلټنې خبر ورکړ – خو له هغه رژیمه به څنګه د عاملینو د مجازات تمه وشي چې رهبري یې ټوله د همداسې وحشتونو توره ماضي لري .

د اوسني رژیم په څوکیو مقرر زیاتره کسان د ۹۰یمو کلونو د خونړۍ کورنۍ جګړې عاملین پاتې شوي او د هر یوه ډله یې له عامو قتلونو او لوټمارونو نیولې بیا د رقص مرده، میخکوبي په څېر غوني-زېږوونکو جرمونو کې لتاړه پاتې شوې ده. د رژیم دفاع وزارت او په اصطلاح د ملي امنیت ریاست رهبري لا هم د هغو کمونستانو په لاس کې ده چې په خپل وخت کې به یې بندیان ژوندي تر خارو لاندې کول او په شکنجو کې یې د سیمې په سطحه تقریبًا ریکارډ ثبت کړی و .

د اهل حق په بېروحه جسدونو غوسه سړول تل د باطل-پلوو خصلت پاتې شوی، او د دې جنایت په ارتکاب سره د خپلو وحشي زړونو تسکین غواړي. اما د دوی دا حیواني سلوک به د حق د پلویانو حقانیت ته هیڅ زیان ونه رسوي – دوی په دې سره یوازې په دنیا او آخرت کې د خپلو جرمونو تله درنوي او بس.

د اسرائیلو او اماراتو ترمنځ رامنځته شوی تړون

حسن زوی

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دروانې اګست میاشتې په ۱۳مې نېټې داسرائیلو لومړي وزیر بن یامین نتن یاهو داسرائیلو ددولتي تلویزیون له لارې اعلان وکړ چې د عربو دمتحده اماراتو سره یې دامنیت تړون لاسلیک کړ.

دامریکا په منځګړیتوب د رامنځته شوي دې تړون په هکله دامریکا ولسمشر ټرمپ وویل : هیله مې درلوده چې دا تړون په خپل نوم ونوموم خو شاید نړیوالې رسنۍ دا ونه مني لوبه پر دې ونه توانېږم.

دامریکا، اماراتو او اسرائیلو درې واړو هېوادونو مشرانو هیله ښکاره کړه چې پدې سره به په منځني ختیځ کې دامنیت وضعیت ښه شي.

دامریکا ولسمشر ټرمپ، د اسرائیلو لومړي وزیر بن یامین نتن یاهو او دابو ظهبي ولی عهد شهزاده محمد بن زاید ته شریکه مبارکي ورکړه او ویې ویل چې دا تاریخي پرمختګ به په منځني ختیځ کې د امنیت راوستلو په لار کې مرسته وکړي.

په زړه پورې خو لا داده چې امریکا او نور لویدیځ ته دځان نېږدې کولو او د خپل واک ساتلو په موخه د رامنځته شوي دشکست نه ډک دې تړون په هکله داماراتو دولت په مظلومو فلسطینیانو زباتنې کوي او دلیل دا وړاندې کوي چې پدې سره به هم په فلسطین او ټول منځني ختیځ کې امنیت تامین شي او هم به داسرائیلو له لورې دلویدیځ اردن دنوروسیمو دقبضې لرې تم شي.

د عربو دمتحده اماراتو دباندنیو چارو وزیر انور قرقاش وویل : داسرائیلو په رسمیت پېژندل دېر دجرأت نه ډک اقدام و ترڅو د اسرائیلو له لورې د لویدیځ اردن دسیمو دانضمام لرې ودرول شي ؛ هغه وویل چې دعربو متحده ایالات دا د انضمام تعطل نه بلکې ودرول بولي.

دامریکا، اسرائیلو اواماراتو له لورې په مشترکه خپرې شوې اعلامې کې هم راغلي دي چې اسرائیل د غرب اردن د نورو سیمو دضم کولو پلان معطل کړي خو دا چې په نړۍ کې داسرائیلو نه ځوک دپوښتنې نشته نو لا به ددې تړون نه ټوله نړۍ خبره هم نه وه چې داسرائیلو لومړي وزیر نتن یاهو خپلوهېوادوالو او د ټولې نړۍ یهودانو ته اطمینان ورکړ او په دېرې بې شرمۍ یې وویل چې داسرائیلو دجغرافیایې حدودو د پراختیا عمل به روان وي؛

دغرب اردن دپاتې سيمو دضم کولو پلان به جاري وي؛ دا ټرون به پدې پلان هيڅ منفي اغيزه ونکړي.

نتن ياهوزياته کړه چې داسرائيلو او دعربو دمتحده اماراتو د پلاوو ترمنځ به د سياحت، پانګوني، دمخامخ پروازونو، امنيت، مخابراتو، ټيکنالوجي، انرژۍ، صحت، کلتور، چاپيريال، دسفارتونو دقيام او دخپلمنځي نورو ګټورو چارو په هکله ټرونونه رامنځته شي ؛ دمنځني ختيځ ددوه تر ټولو متحرکو ټولنو او نويو اقتصادونو ترمنځ دمخامخ روابطو قائمېدو له لارې به لوی اقتصادي پرمختګ رامنځته شي په نوې ټيکنالوژۍ کې به نوي ايجادات وشي او د ولسونو ترمنځ به د نويو روابطو د رامنځته کېدو له لارې سيمه بدله شي.

دلته دا خبره دېره خطرناکه ده چې پدې ټرون کې داهم راغلي دي چې اسرائيل به دپاتې عربو او نورو اسلامي هېوادونو سره هم د ښو روابطو جوړولو هڅې کوي او امريکا او دعربو متحده امارات به ددې هدف لپاره شريکې هڅې کوي.

نو ځکه د منځني ختيځ دچارو څنونکي وايي چې دعربو دمتحده اماراتو او اسرائيلو ترمنځ رامنځته شوی دا ټرون په اصل کې دسعودي عربستان او اسرائيلو ترمنځ د ډيپلوماتيکو اړيکو دجوړولو لپاره له پخوا جوړ شوی پلان دی ؛ دا ټرون يو دم ندی رامنځته شوی بلکې له دېرې مودې راهيسې پدې کار روان و؛ څنونکي وايي لا محمدبن سلمان د سعودي ولي عهد شوی نه و چې دټرمپ يهودي زوم کوشنر ورسره پدې اړه په رابطه کې و او ددې ټرون په رامنځته کېدو کې تر ټولو لوی لاس هم دهمغه دی.

په تېرو وختونو کې دعربو رسنيو له لارې داسې راپورونه هم خپاره شويدي چې پکې د ورکړل شويو معلوماتو له مخې لا دېر وړاندې يانې د ۲۰۱۴م کال راهيسې دعربو په متحده اماراتو اوخصوصاً په دوبۍ او ابو ظهبۍ کې داسرائيلي يهودي سوداګرو سوداګريزې هلې ځلې روانې دي؛ خصوصاً دقيمتي ډبرو په کارو بار کې دوئ دېر پرمخ تللي دي؛ دقيمتي ډبرو لږ تر لږه ۱۱ ستر مرکزونه داسې دي چې ۴ ستر اسرائيلي يهودان يې مالکان دي.

په ۲۰۱۵م کې هم په رسنيو کې يو داسې لنډ ويډيو کلپ خپور شوی و چې پکې داماراتو پر يوې ودانۍ داسرائيلو بيرغ رپانډ و چې پرضد يې په اسلامي نړۍ کې سخت غبرګون رامخې ته شو، خو بيا دا په رسنيو کې خپور شوی يو بې بنسټه خبر وګڼل شو او په پوره مهارت داخبره ورکه شوه خو له هغې بعد هم په عربو رسنيو او په ځانګړې ډول الجزيره کې ددواړو هېوادونو ترمنځ د پټو روابطو په اړه وخت ناوخت معلومات خپرېدل چې اوسنی اقدام دخپرو شويو دې معلوماتو د کره توب ښه ثبوت دی.

دفلسطين ولسمشر محمود عباس دا ټرون خيانت ګڼلی او پرې يې سخت خفګان ښکاره کړی. د فلسطيني اداري د باندنيو چارو وزير له ابو ظهبۍ نه خپل سفير راغوښتی او ويلی يې دي چې دا ټرون

د فلسطین دمسئلې سره سخته غداري او دفلسطین په خپله دخنجر ښخول دي

حماس هم دا ټرون په سختو ټکو غندلی او ویلی یې دي چې داسې ټرونونه به دآزاد فلسطین درامنځته کېدو امېدونه ختم نکړي او نه به د فلسطین د مسلمانانو ازادۍ جدوجهد باندې کومه منفي اغېزه وکړي .

داسې اوازې هم روانې دي چې ددې ټرون نه وروسته اماراتو دفلسطین نه دخپل سفیر دراغوښتلو پرېکړه کړیده.

د یمن دباندنیو چارو وزارت هم ویلي دي چې دفلسطین دقضیې په هکله دیمن دریځ کې هیڅ بدلون ندی راغلی او نه به پکې راشي چې مور تل په عرب لیګ او اسلامي کانفرانس کې خپل دریځ په روښانه ټکو ښکاره کړیدی.

دایران ولسمشر حسن روحاني هم دا پرېکړه غندلی ده؛ ویلي یې دي چې په منځني ختیځ کې داسرائیلو دپښو کلکول به دېر بد نتایج ولري؛داټرون خاص په داسې وخت کې ولې رامنځته شو چې په امریکا کې انتخابات راروان دي؟ که دا ټرون سم و نو ولې یې اعلان په دریم هېواد کې وشو؟ هغه هم په امریکا کې ترڅو په راتلونکو انتخاباتو کې دواشنګټن هغه واکمن ټه دېریالیتوب لارې برابرې شي کوم چې د دې ټرون لپاره فشارونه وارد کړیدي.

دا ټرون یوه ستره شیطاني هڅه ده خو دا پوښتنه هم پر ځای ده چې آیا په عمل کې به هم په دواړو هېوادونو کې دیو بل سفارتونه جوړ او په بشپړ ډول به دیپلوماتیکې اړیکې پیل شي؟ پدې ټرون کې په شویو وعدو به وفا وشي ؟ او بل کوم عرب او اسلامي هېواد به هم داسې اقدام وکړي ؟

هر چا ته معلومه ده چې یهودیان ډېر غدار، خاین اومکار خلک دي؛ دخپلو پېغمبرانو او الله تعالی سره کړې وعدې به یې ماتولې نو دعامو انسانانو سره دکړو وعدو به څه پروا وساتي بیا چې لا یولور ته داماراتو په ځېر کمزورې هېواد وي اوبل لورته داسرائیلو اتومي ځواک وي او ترشا یې لا امریکا هم ولاړه وي؛ په نړۍ کې به ځوک داسې وي چې پدې ټرون کې دشویو وعدونه د مخالفت پرمهال د اسرائیلو نه د مخالفت وجه وپوښتي؟

حالاتو ته په پام سره داسې ښکاري چې دامریکا، اسرائیلو او اماراتو مشرانو کې یو ته هم دټرون د مادو عملي کېدل ډېر مهم ندي؛ هر یو ته لندمهالې سیاسي ګټې مهمې دي چې به ټرې چا لپاره اوچا ډېرې پورته کړې وي.

نور نو هرڅوک پدې پوهېږي چې دا د فلسطین اوټولې اسلامي نړۍ تر ځنګ پخپله د اماراتو لپاره هم په هرلحاظ ډېره دتاوانونو نه ډکه پرېکړه ده؛ که د اماراتو یقین نه راځي نو ودې ګوري چې دمصر په ځېر اسلامي هېوادونه د اسرائیلو په رسمیت پېژندلو له املې دڅومره ستړو هر اړخیزو تاوانونو سره مخامخ شول؟!

آیاپه خدمت کې دمور حق له پلار مقدم دی؟

الاستفتاء رقم .... محترم مفتي صاحب !دیوه سړي دوې میرمني وي ،دایوه یې طلاقه کړي اودهمدې مطلقې زامن یې له پلار سره دي ، پلار یې زامنو ته د خپلې مور د لیدو اجازه نه ورکوي، بله خوا دغه مطلقه میرمن یې سخته دمسکنت ژوندکوي ، ددغې مطلقې زامن یې ځوانان دي اوپلار یې نه ورایله کوي ،چې دهغې خدمت وکوي، نو پوښتنه داده :چې دغه زامن به اوس هم دپلار اطاعت کوي؟ اوکه یې په دې خبره کې اطاعت نشته ! اوزامن یې دپلار له اجازی پرته ورتلای شي اوکنه ؟ اودهغې نفقه په دې زامنو باندې شته اوکنه ؟ عبدالله محمود

الجواب حامدا ومصلیا وبعد :په مذکوره صورت کې په زامنو دپلار اطاعت نشته ،زامن کولای شي چې دپلار داجازې پرته خپلې مور ته ورشي اودهغې خدمت وکړي .همداراز په دې زامنو دخپلې مور نفقه واجب ده ،دوئ باید هغې ته پوره نفقه برابره کړي که دهغې دنفقې څوک نه وي.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاطاعة في معصية انما الطاعة في المعروف .رواه مسلم ۱۳۳\۲.

وفي الهندية ۳٦٥\٥ : واذا تعذر عليه جمع مراعاة حق الوالدين بان يتاذى احدهما بمراعات الاخر يرجح حق الاب فيمايرجع الى التعظيم والاحترام وحق الام فيمايرجع الى الخدمة والانعام.

وهكذافي فتاوى اللكهنوي ۴۲۲ وفي الفقه الميسر- ونفقة الاباء والاجداد اذاكانو ا فقراء على الاولاد الذكور والاناث.

والله تعالى اعلم

كتبه :مفتي عبدالواحد عفى عنه

په یوه اسلامي هیواد کې د نامسلمانو معبدونه!

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! ایا په یوه اسلامي هیواد کې عیسایان کولای شي چې کلیسا جوړه کړي ؟ همداراز که سیکان وغواړي درمسال جوړ کړي یایهودان گرجاجوړه کړي یواسلامي نظام اوحاکمیت ددې اجازه ورکولای شي ؟ یو سائل:

الجواب حامدا ومصلیا وبعد:په اسلام کې لکه څرنگه چې دمسلمانانو حقوق بیان شوي همدا ډول د نامسلمانانو حقوق هم بیان شوي دي ، بلکه مسلمانانو حاکمانو ته ددې ډول نامسلمانو قومونو چې په یوه اسلامي هیوادکې اوسي دحقوقو د ساتني ټینګه سپارښتنه هم

کړيده. ددوئ دمال اوځان حفاظت داسلامي حکومت له وظائفو ګڼل کيږي ،مګر اسلامي نظام په دوئ باندي ځينې پابندی هم لري چې دهغوئ له جملې څخه يوه دا ده :چې دوئ به نوي معبدونه نه جوړوي او نه به په هغوئ کې پراخوالی اواضافونه کوي،همدا راز دوئ اجازه نه لري چې په عمومي ځايونو کې دخپل عبادت مراسم اداء کړي.

لهذا په مذکوره صورت کې دنامسلمانو هيڅ يوقوم نشي ګولای چې خپل معبدونه جوړکړي ياپه کې پراخوالی اووسعت راولي اونه هم په اسلامي نظام کې دوئ ته دغه ډول اجازه شته ،اونه يومسلمان ګولای شي چې په دغه ډول کارونو کې په يوډول نه يوډول حصه واخلي.

في احكام القرآن للجصاص (من سورة المائدة: آية: ٢، ٣ / ٢٩٦، ط: دار إحياء التراث العربي)

وقَوْله تَعَالَى: {وتعاوَنُوا علَى الْبرِّ وَالتَّقْوى} يَقْتَضي ظَاهرُهُ إيجَابَ التَّعَاوُن عَلَى كُلِّ مَا كَان تَعَالَى؛ لأَنَّ الْبرَّ هُوَ طَاعَاتُ اللَّه وقَوْله تعالى: {وَلاتَعاوَنُوا عَلَى الإثْم وَالْعُدْوان} نَهْيٌ عَنْ مُعَاوَنَة غَيْرِنَا عَلَى مَعَاصِي اللَّه تَعَالَى."

في الدر المختار [كتاب الجهادباب المستامن مطلب في احكام الكنائس ٤\٢٠٢ط سعيد:] (ولا) يجوز أن (يحدث بيعة، ولا كنيسة ولا صومعة، ولا بيت نار، ولا مقبرة) ولا صنمًا حاوي (في دار الإسلام) ولو قرية في المختار، فتح".وفي ردالمحتار تحته "وفي الوهبانية: إنه الصحيح من المذهب الذي عليه المحققون ... فقد علم أنه لايحل الإفتاء بالإحداث في القرى لأحد من أهل زماننا بعدما ذكرنا من التصحيح والاختيار للفتوى وأخذ عامة المشايخ ولايلتفت إلى فتوى من أفتى بما يخالف هذا، ولا يحل العمل به ولا الأخذ بفتواه، ويحجر عليه في الفتوى ويمنع لأن ذلك منه مجرد إتباع هوى النفس وهو حرام؛ لأنه ليس له قوة الترجيح، لو كان الكلام مطلقًا فكيف مع وجود النقل بالترجيح والفتوى فتنبه لذلك، ....وفيه أيضاً:فقد صرح في السير بأنه لو ظهر على أرضهم وجعلهم ذمةً لايمنعون من إحداث كنيسة؛ لأن المنع مختص بأمصار المسلمين التي تقام فيها الجمع والحدود، فلو صارت مصراً للمسلمين منعوا من ذلك .....وفيه أيضًا:واتفقت مذاهب الأئمة الأربعة على أنهم يمنعون عن الإحداث كما بسطه الشرنبلالي بنقله نصوص أئمة المذاهب، ولايلزم من الإحداث أن يكون بناءً حادثًا؛ لأنه نص في شرح السير وغيره على أنه لو أرادوا أن يتخذوا بيتًا لهم معدا للسكنى كنيسة يجتمعون فيه يمنعون منه؛ لأن فيه معارضة للمسلمين وازدراء بالدين. اهـ. أي لأنه زيادة معبد لهم عارضوا به معابد المسلمين، وهذه الكنيسة كذلك جعلوها معبدا لهم حادثا فما أفتى به ذلك المسكين خالف فيه إجماع المسلمين، وهذا كله مع قطع النظر عما قصدوه من عمارتها بأنقاض جديدة وزيادتهم فيها فإنها لو كانت كنيسة لهم يمنعون من ذلك بإجماع أئمة الدين أيضًا ولا شك أن من أفتاهم وساعدهم وقوى شوكتهم يخشى عليه سوء الخاتمة والعياذ بالله تعالى)

والله تعالى اعلم

كتبه :مفتي ابوحامدعفى عنه

د اسلام غزوات او سرلیا

وروستی لښکر

د أسامة بن زيد رضی الله عنه سريه

■ وروستی برخه
■ ابوظهير

دهجرت ۱۱م کال، دصفر المظفر ۲۶مه، دوشنبې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم رومیانو سره دمقابلې لپاره«ابنا» په نوم سیمې ته دلښکرلیږلو حکم وکړ،چیرته چې وړاندې «موته غزوه» پېښه شوې وه اوپکې دحضرت اسامة پلارحضرت زیدبن حارثه،حضرت جعفرطیار،عبد الله بن رواحه اونورصحابه شهیدان شوي وو

دا وروستی سریه وه یعنې دهغوپوځونویا لښکروڅخه کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله استولې وروستی پوځ و، اسامة بن زیدبن حارثه رضی الله عنه یې ورباندې سرلښکر مقررکړ او په دې لښکرکې د مهاجرینو او انصارو څخه ډیر لوی اوجلیل القدرصحابه ووته هم ورسره یوځای یې دتګ حکم وکړ.

چهارشنبې ورځې څخه درسول الله صلی الله علیه وسلم ناروغې شروع شوه،پنجشنبې په ورځ دناروغۍ سربیره رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپلو مبارکو لاسونو ورته نښان جوړکړ او اسامة ته یې ورکړ هغه ته یې وفرمایل:

اُغزُباسمِ الله وَفِی سبیل الله فَقَاتِل مَن کَفرَ بِالله

ژ: دالله په نوم د الله په لارکې جهادی کوئ او دالله تعالی څخه د انکارکوونکوسره مقابله او مقاتله کوئ.

حضرت اسامه هغه نښان واخيست اوبيرون ووت حضرت بريده اسلمي رضى الله عنه ته يې وسپاره، اولښکريې په «جرف» نوم ځای کې غوند کړ،تولو جليل القدرصحابه وو مهاجرين او انصاروپه دېره بېره کولو هلته ځانونه ورسول،حضرت عباس او حضرت علی رضى الله عنهما درسول الله صلى الله عليه وسلم د درملنې اوخدمت لپاره بيرته مدينې ته ستانه شول،حضرت ابوبکر صديق اوعمر رضى الله عنهما هم دا حضرت اسامة رضى الله عنه ځخه په اجازت اخيستو درسول الله صلى الله عليه وسلم ليدلو ته تله راتلل،پنجشنبې په ورځ چې کله درسول الله صلى الله عليه وسلم ناروغي دېره سخته شوه نودماسخوتن لمانځه لپاره مسجدته رانغی، حضرت ابوبکرصديق رضى الله عنه ته يې دلمانځه کولو حکم وکړ،او پخپل ځای يې هغه خلکوته امام مقرر کړ،پاته لښکر هم هغسې په «جرف» کې غوند و،کوم چې دمدينې بيرون پروت دی،دوشنبې په سهاردرسول الله صلى الله عليه وسلم په ناروغی کې دکمښت اثارښکاره شول، د هغو په ليدو دصحابه وو باور راغی چې گواکې رسول الله صلى الله عليه وسلم ښه شو، په دې سره حضرت اسامة هم دروانيدوهود وکړ، هغه په تياری بوخت و،وچې مور يې« اُم ايمن» سری ورولېږه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ژنکدن په حالت کې دی، بيره مکوه، لږ ځند نه وتير چې دا قيامت خيزخبر دتولو ترغوږونو،ورسيد چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم وصال وشو.

انا لله وانا اليه راجعون.

په توله مدينه کې يوماتم جوړشو،او وتلې مجاهدين بيرته مدينې ته راغلل،بريده رضى الله عنه هغه نښان راوړو او دحجرې مبارکې په دروازه کې ودراوه،درسول الله صلى الله عليه وسلم دوفات وروسته چې کله حضرت ابوبکر صديق رضى الله عنه خليفه شونولومړی کارېې دا وکړچې دمخالفت سربيره يې دحضرت اسامة رضى الله عنه لښکر روان کړاو دجرف پوړې ورسره پخپله لاړ،په دې توګه دحضرت اسامة رضى الله عنه لښکرروان شواو دځلويښت ورځو وروسته بيرته کامياب اوبريالی راستون شو،په معرکه چې هرځوک مقابلې لپاره ورته راتلل هغوی يې له تيغ تيرول او هم يې دخپل پلار(زيدبن حارثه رضى الله عنه) قاتل قتل کړاو دبيرته تګ په وخت کې يې دهغوی کورونه اوباغونه وسيزل،کله چې مدينې منورې ته نيږدې شو حضرت ابوبکر صديق رضى الله عنه يې هرکلې ته پخپله ورغی او چې کله مسجد نبوي ته ننوتل نو دوه رکعته دشکرانې لمونځ يې وکړاوبيا خپل کورته لاړ(الطبقات الکبری۲توک۱۳۶مخ)

لله الحمد په دې سره داسلامي غزواتو اوسرايواو اوږده لړۍ پای ته ورسيده،چې له املې يې دخپل ځښتن او منان رب بې پايه شکراداء کوم، چې ما عاجز اونا لايق ته يې داسلامي تاريخ ددومره عظيم الشان باب دبشپړولو توفيق راکړ اوپه راتلونکي کې دورته نورو ديني اوعلمي خدمتونو دسرته رسولو لپاره تری د وس،صحت اوتوفيق التجا لرم .

د شهید ملا نعمت الله عابد تقبله الله لنډ ژوند لیک

قاري جبريل أمين

که اسلام زما پر وینو تازه کړي دغې ذبحې ته ترلې اسماعیل یم

افغانان چې له مودو په خونړیو جګړو کې کباب شوي، که پر وینو یې اسلام پاڼې او پر سرونو یې د برم ځلې لوړیږي، نو هر اصیل بچی یې د دې ستر ازمایښت تر چاره لاندې ذبحې ته ترلې اسماعیل دی، په دومره توپیر چې په هغې ذبحه کې چاړې د اسماعیل علیه السلام مړی غوڅه نکړه، خو زمور مړیکې غوڅیږي ترڅو پاڼې خپلوان، ملګري او را روان نسلونه یې راڅخه زده او د یو ازمایښت په توګه د جهاد أمر پر ځای کړي، هغه ته وده ورکړي، اسلام او مسلمانانو ته خپله ژمنتیا وښیي او همدا د اسلام په تاریخ کې د رسول الله مبارك صلی الله علیه وسلم، حضراتو اصحابانو او زمور د صالح سلف لاره وه چې پرې تر اوسه اسلام پاڼې.

الله تعالی چې د چا پر ژوند او مرګ عزت، برم او لوړوالی وغواړي نو همدې د اسلام لوړي ځوکې (جهاد) ته یې رسوي، جهاد په اسلام کې یواځینی هغه فریضه ده چې الله تعالی پرې خپلې مسلمانان خانګړي کړي، په دې مانا چې د خپلو خاصو او نازولو بندګانو په رګو کې یې ولوله خپروي او پرې د ترسره کولو توان یې پېرزو کوي، د دوی له جملې دلته له مدار او غورځنګه لوبډلې نه ستړي کېدونکي مجاهد پر ژوند لنډ غږیږم، هو! شهید ملا نعمت الله عابد تقبله الله چې له نېکه مرغه تېر کال د شهادت ستر أرمان ور له غاړې وتی.

زوکړه او زدکړې: شهید ملانعمت الله عابد تقبله الله د حاجي الله نور اکا زوی او په قوم مریانی وه، نوموړی نړدې پر ۱۳۹۷م هجري سپوږمیز کال چې له۱۳۵۴م هجري لمریز سره په سمون کې وه د پکتیکاولایت تروې ولسوالۍ نجف کلي په یوه غربیه، علم دوسته او جهاد پاله کورنۍ کې زیږېدلی وه.

د کلي له ملا امام څخه د سیپارې او لږ برخې قرآن عظیم الشان لوستلو وروسته یې په۱۲ کلنۍ کې لومړی د زړې ډګړي سیمې مولوي عبدالمنان صاحب څخه زدکړې پیل او ورپسې یې پولې ته ځېرمه د ژوب له مولوي ګلان صاحب او عبدالکریم صاحب، د خیبر پختونخواه ډېره اسماعیل خان پهاړپور سیمه کې له مولوي اخترمحمد صاحب، د وازېخواه ولسوالۍ په نظامي کنډك کې له مولوي شېرعلي صاحب او ځیني نورو مدرسو کې له ګڼو استادانو څخه لومړنۍ او منځنۍ زدکړې وکړې او بیا یې وړه دوره له مرحوم مولوي فیض الله صاحب څخه وکړه.

دا چې د هېواد له نړدې نیمې پېړۍ راسې دلته د افغانانو اولادونه یو خونړي جهادي پېر او پرلپسې انقلابي ځپو په ځیر کې اخیستې، د شوروي او روزنې بهیر مطلق ټکنی دی، د شهید ملا نعمت الله عابد تقبله الله په زدکړو کې هم د هغه د جهادي بوختیاو له امله لومړی وقفې رامنځته او بیا تري بشپړې نېمګړې پاتې شوې.

جهاد او جهادي فعالیتونه یې: له کندهاره د مشر ملا صاحب رحمه الله په مشرۍ د طالبانو غورځنګ را پورته کېدو پر مهال شهید ملا نعمت الله عابد تقبله الله د مدرسې ځلمکی طالب او د فرد په حیث له خپل مشر ورور شهید ملاعبیدالله عابد تقبله الله (د وازېخوا ولسوالۍ د نظامي کنډك مسئول) سره و، پر۱۳۶۶لمریز کال د هېواد په شمال کې د ملا عبیدالله عابد تقبله الله له شهادت وروسته نوموړی د هغه ځای ناستی و تاکل شو او د یاد کنډك د مسئولیت او د مجاهدینو یو ګروپ د مشرۍ په ګډون ټولې چارې یې هغه ته ور له غاړې شوې.

شهید ملانعمت الله عابد تقبله الله که څه هم هغه مهال کشر و خو د خپې پوځي ځیرکتیا پر مټ او خپل ورور ملا اسدالله عابد پر ملاتر یې

اړوندي چاري په خورا ښه توګه سمبال کړي او د خپل شهید ورور ډېر ښه ځای ناستی ثابت شو، د هغه په مشرۍ لومړی تشکیل د بامیانو ولایت ته لاړ او یوه میاشت یې هلته د جګړې په لومړیو کړښو کې تېره کړه، له هغه وروسته یې د امارت تر سقوط پورې د شمال په بهلابهلو ولایتونو کې ګڼ جګړه ایز فعالیتونه ترسره کړل او وروستی تشکیل یې هم په بامیانو کې و چې د اشغال په پیل کې د امریکایانو تر بمبار لاندې راغلل.

د اسلامي امارت له سقوط وروسته شهید عابد تقبله الله له لومړنیو مجاهدینو څخه و چې د یو سرګروپ په توګه د وخت شرائطو او امکاناتو ته په کتو د صلیبي اشغلګرو پروړاندې د نوي جهادي بهیر فعالیتونو د تصمیم او پلان ونډه وال شو، د دغه ډول پلان تطبیق تردېره پر مزدور دښمن خال خال غلجکي بریدونو باندې راڅرخېده چې بیا کرار د شرائطو پر بدلون سره مقاومت هم بنه بدله او مثبت ټوپر یې خپل کړ، وروسته ډېر زیات پرمختګونه، جګړه ایز تغیرات او ګڼ فتوحات هم رامنځته شول.

شهید ملا نعمت الله عابد تقبله الله له لومړي سره د شهید ملا عبدالباسط اغاصاحب تقبله الله د ډلګي په چوکاټ کې فعالیتونه کول، وروسته چې په شرائطو، جګړې او فتوحاتو کې له پخوا ډېر توپرونه راغلي وه، نو د مجاهدینو ډېرښت او ملګرو زیاتوالي، د سیمې ستراتېژیکي جغرافیې او ځیني نورو جهادي مصلحتونو ته پر پام پر ۱۳۸۵لمریز کال نوموړي ته د پکتیکا د هغه مهال جهادي مسئول ملا بخته جان آخند له لورې یوه جلا ډلګي ور له غاړې شوه چې د شهید اغاصاحب تقبله الله او نورو سېمه اېزو ډلګیو سره پر ګډه او همغږي یې د ژوند تر وروستۍ شېبې د پام وړ فعالیتونه ترسره کړل.

کله چې د جګړې پرمختګونو پر نوي ډول یرغلیزو بریدونو ته توپر وکړ، شهید عابد تقبله الله په ګڼو بریدونو کې برخه واخیسته، پر ۱۳۸۱لمریز کال یې په...سیمه کې د خپل ورور ملا أسدالله عابد پر ملتیا د ځانګړي تکتیک له لارې د ګوداګیو عسکرو چاپه ماته کړه، پر ۱۳۸۲د شهید ملا رازمحمد خنجري په ملتیا د تروې او د ملاعبدالله منیر سره د وړې ولسوالۍ په فتحه کې برخوال و، پر ۱۳۸۳لمریز کال د وازیخوا پر ولسوالۍ عملیاتو کې شریک او ورپسې د خوشامند ولسوالۍ په فتحه کې د تعرضونو مشري پر غاړه وه.

سیمې ته د امریکایانو له راتلو سره سم یې د بوزي په نوم کلي ته خېرمه د هغوی لومړی زړي ټانک منفجر کړ او پکې ۱۴تنه اشغالګر ځای پر ځای و وژل شول،پر ۱۳۹۰لمریز کال یې د یوسف خېلو ولسوالۍ کې د پکتیکا د ځانګړو مزدورو عسکرو مشر عزیزالله کاروان پر عملیاتي قوه برید وکړ، د درنې مرګژوبلې ور اړولو ترڅنګ یې تري دوه ټانګونه بشپړ له منځه یووړل او یو یې هم له وسلو ډک تخریب کړ، د تلفاتو پر لېدلو ګوداګي دښمن پر تېښته لاړ، له دې پرته پر ۱۳۹۵لمریز کال د ګواښتي سیمې تاریخي عملیاتو، د کورني او بهرني دښمن مرکزونو لسګونه عملیاتو، کمینونو، محاصرو ماتولو، د وازیخوا او تروې لویه لاره باندې پر کاروانونو او ډېرو نورو حماسو برخوال او ورکې د منځنۍ سوېې نظامي مسئولینو ترڅنګ یې بارز رول درلود.

له هغه را وروسته چې د مجاهدینو د فعالیتونو د لا ښه مدیریت په پار پر لومړي ځل د اسلامي امارت په لیکو کې رسمي تشکیلات رامنځته او د مسئولینو د تعیین لړۍ پیل شوه؛ شهید عابد تقبله الله د نظامي فعالیتونو او یوې پرتمیني مستقلې ډلګې د مشري ترڅنګ په یادو تشکیلاتو کې هم پرلپسې۶ کاله دنده ترسره کړې، پر ۱۳۸۸ لمریز کال د تروې ولسوالۍ د مسئول او۱۳۸۹لمریز کال د همدې ولسوالۍ معاون،پر ۱۳۹۰لمریز کال د یوسف خېلو ولسوالۍ د جهادي مسئول په حیث، پر ۱۳۹۱لمریز د وازیخواه ولسوالۍ د معاوین او پر۱۳۹۵او۱۳۹۶لمریز کلونو د ولایتي کمېسیون د غړي په توګه دنده یې په خورا متانت او بشپړ شوق سرته رسولې وې

شخصیت یې: له علم، پوهې او غوره روزنې وروسته ریښتوني مبارزه، اطاعت، قیادي وړتیا، د خپلو افرادو او ولسي وګړو د ملاتړ رول پېژندل او ورته درناوی، د جهاد اهدافو ته تعهد او مشرانو او لائحو ته احترام او التزام د یو مجاهد په شخصیت جوړونه، لوړېدو او بشپړېدو کې خورا مهم نقش

لري، له نېکه مرغه پر شهید عابد تقبله الله باندې الله تعالی ډېر هغه مواهب پېرزو کړي و چې له اُمله یې د هغه شخصیت د دا ډول ډېرو مواصفاتو مجسم تعبیر او تفسیر و، نوموړی ریښتیا هم په یوه شهید پرورې کورنۍ کې لوی شوی وه، د روزې محمد په نوم یو ورور یې د رومي اشغال، د عبیدالله عابد په نوم دوهم ورور یې د شر او فساد او د کورنۍ نور غړي یې د اُمریکایي یرغل پر وړاندې جهاد کې شهیدان شوي.

شهید عابد تقبله الله د جهادي سابقې، په نظامي تخنیک کې د ښې تجربې او په پلان او د هغه په تطبیق کې د غوره درایت له اُمله یو له بریالیو قوماندانانو څخه ګڼل کېده، ساده تولنېز او انفرادي ژوند، متواضع خوی او عادت، له ملګرو او ولسي ـ وګړو سره په زړه پوري چلند او برخورد، د مشرانو درناوی، جرأت اومېرانه، جګړه ایزه وړتیا او بصیرت، جهادي اهدافو ته کلکه ژمنتیا او په دې لاره کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې، خواری او فداکاری د یادونې وړ خاصیتونه و.

شهید عابد تقبله الله د اخلاص، توکل، انابت، تقوا، متانت، ثبات، حوصلې او ایثار پېکر او په جهادي ژوند کې د یو بریالي شخص تولو مهمو ځانګړنو څښتن مشر و، د هغه خندنې او جذابه څېره، ارام خو مزاجي مزاج، د اشخاصو سوېې ته پر کتو معتدل چلښت، خپلو افرادو او ماتحتو ته ځانګړې توجه، پر مجاهدینو او ولسي ـ وګړو زړه سوی او ستونزو ته یې پر وخت پاملرنه او لاس رسي یې د تولو د محبوبیت او ملاتړ را خپلولو لاملونه ګڼل کېدل.

د اشغال په لومړنیو کلونو کې د سیمې دوه عام وګړي چې په تراکتور به یې د مزدورۍ یوې، تربشر او ژرنده ګرځول له دې وجې چې د یو جهادي قوماندان ورونه و مزدورو دښمن په خورا قساوت شهیدان کړل، شهید عابد تقبله الله پرې ډېر زیات خواشینی شو، همغه و چې ورته یې کمین ونېوه، خو دا چې دښمن څو ورځې په خپل کور کې پنا اخیستې او پټ و له اورد انتظار وروسته پرې شهید عابد تقبله الله څو فائره راکټ وار کړل نور یې پرېښود، همدارنګه د ورمې ولسوالۍ عملیات چې عابد یې له مهمو طراحانو څخه و او بیا یې شهید هم شو دیو شهید قوماندان د جسد پې حرمتۍ په غېرګون کې ترسره شول چې عسکرو له شهادت وروسته ترې اندامونه غوڅ کړي او لمر ته یې ښودلی وه، تقبلهم الله.

عبدالله منیر وایي: شهید عابد تقبله الله له کشرتوبه له جهادي ولولې څخه سرشاره ځلمکی و، له مشر ـ کېدو وروسته یو تجربه کار، چسپ او اخلاص مند مشر ـ و، زیاتر به یې په مجالسو کې خلکو ته د جهاد ترغیب ورکاوه او یابه هم باوقاره چپ ناست و.

ملاعبدالله خان وایي: عابد تقبله الله مې له وړوکتوبه نږدې ملګری و، له نظامي فعالیتونو وروسته یې ملګري نوره هم راسره همېشنۍ شوه، هغه به د جګړې پر مهال هروخت نور مال و او کله هم مې متأثر او وارخطا نه دی لیدلی، زیات استقامت یې لاره، د پوخ او قاطع درېځ څښتن و. هغه وایي: عابد تقبله الله یې ساري زړور و، د اشغال په لومړیو کې مو یو ځل له وازېخوا د مرکز لورته د دښمن د کتار تللو خبر ترلاسه کړ، ما او عابد تقبله الله د صاحب کاریز سره کمین وواهه چې له انتظار وروسته مالومه شوه دښمن معطل شوی، د بېرته راتلو پر مهال موترسائکل د هغه په کنترول کې و چې د ګواښتې په سیمه کې یې له ما مخکې عسکر ولیدل او همداسي په رفتار کې یې راته کړه چې مخته مو عسکر دي، همداسي له بشپړ داډ سره شه پر سرعت راروان و، چې مخکې راغلو پر یوه درخته را تاو شوو د دښمن عسکرو رنجر موتر او ورسره عسکر ولاړ و، عابد مخامخ موترسائکل پر ور خوشی کړ، زمور پر لېدو وارخطا عسکروپه خپل موتر کې د تېښتې هڅه کوله چې مور ېېخي رنجر ته را ورسېدو، عابد پرته له دې چې ترې چپ شي پر راټېر شو، دا مهال وارخطا عسکر د رنجر دروازه خلاصوله چې زما لاس ور څخه و لګېده.

مولوي عبدالحلیم همایون صاحب وایي: په کومو سفرونو اوپروګرامونو کې چې ما له شهید عابد تقبله الله سره برخه اُخیستې مېرانې، اخلاص او پر ملګرو شفقت ته به یې حیران وم، هغه ډېر د داډ څښتن، متعهد او د ملګرو خیال ساتونکی مشر و، مشکوک حالات یې خپله څارل. دی وایي: د عابد وروستیو عملیاتو پر مهال چې هغه ته پکې د ولایت مقام لخوا د ۱۰۰ کسیز ګروپ مشري ور له غاړې شوې وه او بیا پکې شهادت ته

هم ورسېد څه مجاهدين د دښمن له لوري محاصره شول، عابد تقبله الله محاصري ماتولو ته ځان ورساوه، مور يو راکټچي او يو بل ملګری يو جګ ځای ته خپرولي و ترڅو پر دښمن راکټ فائر کړي، عابد پرې غږ کړل چې زه نږدې يم، دښمن ځارم، تاسو تر هغه فائر مه کوئ ترڅو مې درته ويلې نه وي، ملګرو پر مور غږ کړل، مور هم ورته وويل چې بس مرمئ مه ضائع کوئ، د عابد د أمر انتظار کوئ ، وروسته عابد أمر وکړ چې پر دا پوري باغ/باغچه راکټ فائر کړئ، همغه و چې د دښمن محاصره ماته شوه.

مولوي بلال أحمد تائب صاحب وايي: د شهيد عابد تقبله الله د مېراني او جرأت مې دېر څه اوريدلي و، خو دېرو فعاليتونو کې مې ورسره ګډون نه و کړی، د ولايتي کمېسيون د غړيتوب پر مهال يې يوځل د پکتيکا چارېران ولسوالۍ په سفر ورسره لاړم، د شپې يوې بجې شاوخوا د علیزو اډې په نوم سيمې ته نږدې چاپه ووهل شوه چې د۶چورلکو ترڅنګ درون الوتکو هم بدرګه کوله، عابد تقبله الله پر چتکی ور ووت، پر ملګرو يې د راکټ مرميو غږ وکړ، د سيمې له مجاهدينو سره په اړيکه کې شو او د چاپې ځرنګوالی او هدف يې ترې پوښته چې مور ته نږدې ځای يې ورته وښود، د عابد په أمر مو تياري ونيوه او عابد ته مو د ويده کېدو ووېل، لږ وروسته هغه له خپل عادت سره سم را جګ شو مور ته يې وويل چې ويده شو او هغه ترسهاره پر مور پيره و، کوربانه ورته د ځای بدلولو ويل چې داسې نه دښمن يې په نښه کړي، عابد ورته کړه: مولوي صاحب ! ته نښه وايې، احتياط خو نښه دی، البته کومه مرمۍ چې زمور د ژوند أخيستو لپاره او کومه ځمکه چې زمور ژوند به پرې پای مومي تاکل شوې همغه به مو هملته ژوند أخلي، مؤمن بايد له مرګه ونه وېرېږي.

شهادت يې: د۱۳۹۸لمريز کال وړي مياشتې پر۵مه د سيمې بېلابېلو ډلګيو مجاهدينو د ورمې پر ولسوالۍ عمليات پيل کړل چې پکې د يو لوري کمين مشري د شهيد عابد پر غاړه وه، د عملياتو له۸ورځې دوام او دښمن ته له ګڼو تلفاتو اوښتو وروسته د يادي ولسوالۍ باران کلي کې ۱۶ تنه مجاهدين د دښمن کمانډو عسکرو له لوري محاصره شول، شهيد عابد تقبله الله له ملګرو سره د پېښې ځای ته ځان ورساوه، محاصره يې ماته کړه او کمانډو عسکر ترې په تېښته لاړل.

شپېه وروسته سيمې ته امريکايي درون الوتکې ننوتې او پر مجاهدينو يې بمبار وکړ چې پر مهال يې له جهادي ولولې سرشاره، شهکار، سر سپارلی او غيور مجاهد شهيد ملا نعمت الله عابد تقبله الله د۱۴۴۱ سپورمیز کال محرم مياشتې پر۲۶مه چې د۱۳۹۸لمريز کال وړي مياشتې له۱۳مې سره په سمون کې وه د چهارشنبې په شپه۳بجې له څو تنه مجاهدينو ملګرو سره د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل انا لله و انا اليه راجعون، له يادو شهيدانو څخه مولوي شاه محمد حسان، مولوي دين محمد شوکت او ملا جمعرات توقير د عابد د ډلګې مربوط و، د عابد، مولوي حسان او ملا توقير تقبلهم الله جنازې له شهادت دوه ورځې وروسته د وازېخوا ولسوالۍ اړوند ترحي سيمې په مينا کلي کې د مولو أمان الله منقاد په امامت د ګڼ شمېر ولسي ګڼو ملګرو او مجاهدينو له لوري ادا شوې او د همدې سيمې لوی سکو کلي په هديره کې د نورو شهيدانو تر څنګ خاورو ته وسپارل شو، د شهيد عابد تقبله الله شاته مورکی، ورونه، د يو زوی په ګډون۷اولادونه، تورسرې او د مجاهدينو ډلګې پرېښوده، اروا يې شاده او ياد يې تلپاتې او ژوندی اوسه.

لیکوال: محمود محمد الخزندار
ژباړه احمدحمزه

اوومه برخه

په جهاد کې زمور اخلاق

زړورتیا (بهادري)

کله چې انسان ته خپل دین تر هرڅه لوړ او قیمتي وي، بیا یې هغه هر ډول دفاع ته زیات زړور، جرأتمند او پیاوړی اقدام کوونکی وي.

شجاعت یا زړورتیا د انسان په فطرت کې اغږل شوې ده، خو په جهادي روزنې سره لاپیاوړې کیږي، په ویشتلو، په تدریب او په سختو پیچلو حالاتو کې لوبیدلو سره زیاتیږي، ترڅو چې بیا د هغه خوی او خصلت وګرځي.

همدې ته په اشاره عمر ﷺ فرمایي: (.. **والجرأة والجبن غرائز يضعها الله حيث شاء، فالجبان يفر عن أبيه وأمه، والجريء يقاتل عما لا يؤوب به إلى رحلة، والقتل حتف من الحتوف**) جرأت او ډار داسې طبیعتونه دي چې الله تعالی یې چاته وغواړي، هغه کې یې اچوي، نو ډارن له خپل پلار مور څخه تښتي، او جرأتمند له پردي بار څخه هم جګړه کوي، چې هیڅ ورپورې اړه نه لري او وژل کېدل هم د مرګ یو ډول دی.

فؤاد عبدالباقي په وروستۍ جمله چې: "**وژل کېدل د مرګ له ډولونو څخه یو ډول دی**" لکه په مرض مر کېدل. نو باید سړی تړې ونه ویریږي او نه داسې هیبت یې واخلي چې هغه د وېرې او ترڅ سبب وګرځي.

په واقعیت کې الله تعالی د دین کار داسې ګرځولی چې له زړورتیا پرته نه ترسره کیږي، له همدې وجې که د حقپالونکو په زړونو کې ویره راشي، بیا به الله تعالی د دوی په ځای له دوی سوا نور راولیږي او دا همغه خبره ده چې ابن تیمیه رحمه الله یې په دې قول کې کوي: کله چې د بني آدم کامیابي او صلاح په دین او دنیا کې له شجاعت او قربانۍ پرته نه ترسره کیږي، نو الله تعالی روښانه کړې چې څوک په خپله له جهاد څخه مخ واړوي، الله تعالی به دهغه په ځای بل څوک راولیږي چې دغه فریضه پرمخ بوځي.

البته په منافقینو او مصالح غوښتونکو باندې باور نه دی پکار، ځکه چې دوی د اخلاص او دیني جذبې تر اخري حده حرارت هم بایللی وي، له همدې وجې ابوطلحه منافقین د اُحد په ورځ داسې ارزوي،

هغه وايي: (.. والطائفة الأخرى المنافقون، ليس لهم همٌّ إلا أنفسهم، أجبن قوم وأرعبه، وأخذ له للحق) هغه د منافقانو بلې ډلې سره يواځې د ځان غم وي، دوی ترټولو ډېر بې غيرته او وېرېدلی قوم دی، او دحق ذليله کوونکي دي.

د جاهليت خامنو هم دخپل سرېتوب له وجې يو بل تـه د ډار تـانې ورکـولې او هغـوی بـه پـه زړورتيـا افتخار کاوه، همدغه معنا د ابوجهل او عتبه بن ربيعه ترمنځ خبرو اترو کې څرګندېږي ، د بدر پـه ورځ ، چـې کله عتبه وويل : زه سرټېرى، دفاع کوونکی قوم ويـنم، تاسې هغوی تـه نـه شـئ رسـېدلای خـو تاسـې غـوره ياست، (کله چې ابوسفيان له روغې قافلې سره مکې ته ستون شو، نو عتبه غوښتل چې دوی هم واپـس شي خو د ابوجهل رايه بدله وه، هغه ويل چې موږ به له مسلمانانو سره پرېکنده جګړه کوو) عتبه وويل: اې قومه! دغه عار نن ما پورې وترئ، بيا ووايئ چې د عتبه د ډار له وجې و، (يعنې راځئ چې ستانه شو) خو تاسې ښه پوهېږئ چې زه ډارن نه يم، کله چې ابوجهل دا خبره واورېده، وې ويل: دا ته يې چې غږېږې؟! قسم په الله که بل چا دا خبره کړې وای، نو ما به هغه په غاښو چيچلی و، ستا خو خټه او سـرې لـه سـامه (وبـرې) ډک دي، نو عتبه وويل: پام کوه، ما ته تانې مه راکوه، زېر ... ؟! نن ورځ به معلومه شي چې څوک ډارن دی!

ډار يو داسې شر ده چې پېغمبر صلى الله عليه وسلم هم ترې پناه غوښتې: «**اللهـم إني أعـوذ بـك مـن الجبن ..**» **اې ربه! زه په تاسره له ډاره پناه غـواړم...)** ، همدا راز هغه يې تر ټولو ناوړه صفت ګڼلـی ، فرمـايي: «**شر ما في رجل: شُح هالع، وجبن خالع ..**» په سړي کې تر ټولو بد : سخت بخل او زيات ډار ده. او دغسې ډار چې زړونه باسي، د تربيې له طبيعي حالته، د چاپېريال له اغېزو او د ټولنې له بېلګو او اخلاقـي جوړښـت څخه راپيدا کيږي، له همدې وجې له وړوکوالي څخه بايد ماشومانو کې جهادي اعـداد لپـاره د شـجاعت او بهادرۍ صفات وکرل شي.

له دنيا سره ژور تعلق او د هغې زينت هم کله په انسان سرچپه واوړي، او په ګټـو او مصـالحو بانـدې د وېرې او په سختيو کې د غورځېدلو ډار سبب وګرځي، له همدې وجې پېغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: « **إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ** » يقينا بچی د بخل او جبن (ډار) پيدا کېدو ځای او سبب دی. دلتـه د شـجاع (زړور) او ډارېدونکی سړي ترمنځ نفسي او رواني توپير هم ښکاره په ګوته شوی، ابن القيم رحمه الله فرمـايي: زړور سړی يقيني چې ډېره لويه سينه لري، او ډارن تر ټولو تنګه سينه او بند زړه لري، نه خوشالي پېژني نـه خـوښ وي، نه لذت لري، نه هوسا وي، مګر يواځې د ځاروېو په څېر ژوند يې وي.

خوک چې حلکو ته آمريت او رهبري ښيي، بايد په زړورتيا کې نورو لپاره نمونه وي ، ځکه پېغمبر ﷺ: «أحسن الناس، وأشجع الناس، وأجود الناس» بهترين د خلکو ، تر ټولو زړور دخلکو او ډېر سـخي دخلکـو و. هغه فرمايي: «**لو كان لي عدد هذه العِضَاهِ نَعَمًا لقسمتُه بينكم، ثم لا تجدوني بخـيلاً ولا كـذوبًا ولا جبانًـا**»

که چېرته ددغو اغزیو برابر ماسره اوښان وای، نوما به تاسې باندې ویشلې وه، بیا به تاسې زه کنجوس، درواغژن او ډارن نه پیدا کولم).

دحدیث په فوائدو کې ابن حجر رحمه الله فرمایي(**وفيه ذم الخصال المذكورة وهي البخل والكذب والجبن، وأن إمام المسلمين لا يصلح أن يكون فيه خصلة منها**) پدې کې راوړل شویو خصلتونو بدي بیان شوې چې هغه بخل، درواغ، او ډار دی او د مسلمانانو امام ددې وړ نه دی چې له دغو صفتونو څخه یو پکې وي). پوځیان قائد (مشر) هله ډېر خوښوي چې زړور وي، او په زړورتیا یې افتخار کوي، بیا له یو بل څخه وړاندې کېدلو هڅې هم زیاتوي. له همدې کبله براء ﷺ چې کله هغوی د پیغمبر ﷺ زړورتیا کتله، هغه د حنین غزا په اړه خپلو خبرو کې وویل: (**كنا والله إذا احمرَّ البأس نتقي به، وإن الشجاع منا للذي يحاذي به**) سوګند په الله چې کله به جګړه خونړۍ شوه، موږ په هغه ﷺ ځانونه ساتل، او له موږ څخه شجاع هغه و چې نبي ﷺ سره په محاذاة (په صف کې یو برابر) جنګېده.

نو د مؤمن لپاره دا مناسبه نه ده چې خپل دښمن ته حپله ترڅ او ډار ښکاره کړي، تردې چې خبیب شهید ﷺ چې کله د وژل کېدو مخکې دوه رکعته وکړل، هغه مشرکینو ته وویل : (**والله لولا أن تحسبوا أن ما بي جزع لزدتُ**) قسم په الله ، که تاسې دا ګومان نه کولای چې په ما دې ډار وي، نو ما به (لمونځ) نور هم زیات کړی و. دغه مهال هغه مرګ ته ور روان و، خو لدې وېرېده چې مسلمانانو پورې څوک نوکې وېره او ډار هم ونه تړي.

د مؤمن زړورتیا دښمن سره مخامخ کېدلو ښکاره کیږي او ادبي جرأت یې بیا خپلو ورونو ته په نصیحت کې راڅرګندیږي چې په نیکو باندې ورته امر او له بدو څخه یې منعه کړي، خپلو ورونو ، ملګرو او بې وسو بې چاره و باندې بر بر کېدل په شجاعت او بهادرۍ کې نه راځي. کله چې له حق څخه دفاع وي، بیا په خلکو د ګواهۍ ویلو لپاره هم زړورتیا ضرورت لري، او هم ادبي جرأت ته اړتیا لري چې کله هغې ته دخلکو دعوتول وي.

ددې فصل لنډې او ارزښتناکې:

- کله چې انسان ته خپل دین تر هرڅه قدرمن وي بیا سړی د زړورتیا په آخري حد کې وي.
- د دین کار له زړورتیا او بهادرۍ پرته نه کیږي.
- په مصلحت غوښتونکو او منافقینو بالکل اعتماد نه شي کېدلای.
- د جاهلیت ځامنو د سړیتوب له مخې یو بل ته د ډار او وېرې تانې ورکولې.
- ډار د سړیو لپاره تر ټولو بده ځانګړتیا ده.
- دنیا سره ډېر تعلق هم د ډارن کېدلو سبب جوړیږي.
- پیغمبر ﷺ په خلکو کې ترټولو غوره، زړور او ډېر سخي و.

جنګي جنايتونه (جولای)

سید سعید

د ۲۰۲۰ز، کال د جولای دمیاشتې په لومړۍ نیټه د میدان وردګ ولایت د جغتو ولسوالۍ د محمد قلي کلي پر مسجد حکومتي الوتکو بمبار کړی،په دغه بمبار کې جومات نړیدلی، خو چاته پکې مرګ ژوبله نه ده اوښتې.

د جولای په ۲مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ دخومانو دکښې په سیمه کې هرات ته پر غځېدلي سړک سنګوري اربکیانو دولسي وګړو د سپرلۍ پر موټر ډزې کړې، په موټر کې سپاره درې تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي، موټر او نغدي پیسې یې اربکیانو له ځان سره وړي دي.

د جولای په ۳مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ په سلطان خیلو کلي کې د حکومتي خواکونو د توپچي په ډزو کې شپږ تنه کروندګر چې خپلو پټیو کې په کار بوخت وو، ټپیان شوي دي.

د جولای په ۴مه د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په ګورتیپې سیمه کې داخلي عسکرو د ملکي وګړو پر کورونو پیرونه کړي،چې له امله یې پنځه میرمنې ټپیانې شوې او خلکو ته مالي زیان رسیدلی دی.

د جولای په ۴مه د لوګر ولایت مرکز اروند اخند خیلو کلي کې داخلي عسکرو دولسي وګړو پر کورونو د چاپې په مهال یو ملکي وګړی شهید کړی او خلکو ته یې مالي زیانونه اړولي دي.

د جولای په ۵مه د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ په سجاوند کلي کې حکومتي عسکرو د چاپې په مهال د کورونو دروازې په بمونو الوزولې، نغدي پیسې او قیمتي توکي یې ترې وړي او خلک یې تهدید کړي دي.

د جولای په ۷مه د هلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د مهاجر بازار په سیمه کې د۲۱۵ قول اردو له مرکز څخه توغول شوي هاوانونه پر یو مسجد لګېدلي، پنځه تنه لمونځکونکي یې له امله شهیدان او اووه تنه ټپیان شوي دي.

د جولای په ۹مه د غزني ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په شیخ اګاه کلي کې د حکومتي عسکرو د

توپچي په ډزو کې يو ماشوم شهيد او دوه نور ژوبل شوي دي.

د جولای په ۱۰مه د پکتيا ولايت د خاڅي اريوب ولسوالۍ په شاه محمد کلي کې داخلي عسکرو د چاپې په مهال يوه ميرمن شهيده کړې او يو ملکي وګړی يې ژوبل کړی دی.

د جولای په ۱۱مه د جوزجان ولايت د اقچې ولسوالۍ په پنجاه مټره سيمه کې داخلي عسکرو يو خوان(عبدالرحيم ولد عبدالرشيد) شهيد کړی دی.

د جولای په ۱۱مه د ميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍ په سلطان خيلو کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې يو سړی او ماشوم شهيدان شوي دي.

د جولای په ۱۴مه د غور ولايت د دولينه ولسوالۍ د زير تنګي سيمه کې د حکومتي خواکونو په بمبار کې يو ملکي وګړی شهيد شوی او پنځه تنه نور ژوبل شوي دي.

د جولای په ۱۴مه د بغلان ولايت د پلخمري ولسوالۍ د خواجه الوان په کلي کې حکومتي عسکرو د چاپې په مهال د خلکو کورونه تالاشي کړي، قيمتي توکي يې ځني وړي او پنځه ځلويښت تنه ملکي هيوادوال يې بنديان کړي دي

د جولای په ۱۵مه د غزني ولايت مرکز اروند شهباز سيمه کې داخلي عسکرو پر (۳۰۳) مسافر وړونکي موټر ډزې کړې چې له املې يې يو تن مسافر شهيد شوی او درې تنه ټپيان شوي دي.

د جولای په ۱۷مه د ميدان وردګ ولايت د جغتو ولسوالۍ د کلاندې په کلي کې د حکومتي خواکونو په بمبار کې د يو ملکي وګړي کور او يوه ديني مدرسه زيانمن شوي او د مدرسې ځلور تنه زده کوونکي ژوبل شوي دي.

د جولای په ۱۸مه د کاپيسا ولايت د تګاب ولسوالي په انارجوي سيمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې د يوې کورنۍ يوه ميرمن شهيده شوې او اووه تنه غړي يې ډبځو او ماشومانو په ګډون ژوبل شوي دي

د جولای په ۱۸مه د بلخ ولايت د خاص بلخ ولسوالۍ په نواباد هزاره سيمه کې دحکومتي خواکونو په هوايي برید کې د يوې کورنۍ پنځه غړي شهيدان شوي دي.

د جولای په ۱۸مه د غزني ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په خاشا کلي کې د استوګنې پر سيمه دحکومت په يو هوايي برید کې يوه ميرمن شهيده شوې ده.

د جولای په ۱۸مه د بلخ ولايت د خاص بلخ ولسوالۍ په عمرخيلو کلي کې حکومتي الوتکو په پر يو کور بمبار کړی، چې له کبله يې پنځه ميرمنې او ماشومان شهيدان شوي او کور تخريب شوی دی.

د جولای په ۱۸مه د بلخ ولايت د دولت اباد ولسوالۍ په بيدو سيمه کې حکومتي الوتکو يو کور په نښه کړی او درې ميرمنې يې پکې شهيدانې او ټپيانې کړې دي.

د جولای په ۱۸مه دهلمند ولايت دمارجې ولسوالۍ دکيمپ په سيمه کې حکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې په دوو کورونو کې شپږ تنه ولسي وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

د جولای په ۱۹مه د بغلان ولايت د پلخمري ولسوالۍ د لرخابيانو د مدرسې په کلي کې د داخلي عسکرو په بمبار کې دوه کورونه په نښه شوي، ځلور ميرمنې او يو ماشوم پکې شهيدان شوي او درې تنې ښځې ټپيانې شوې دي.

د جولای په ۲۰مه د غزني ولایت مرکز اړوند ارزو سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۲۰مه د پکتیا ولایت په ګردې څېړۍ ولسوالۍ کې د کمپاین په نوم عسکرو د مفتي زکیم ګل په نوم یو تن دینې عالم له مدرسې څخه وړی او وروسته یې شهید کړی دی.

د جولای په ۲۱مه د بلخ ولایت د شولګر ولسوالۍ په چرخاب سیمه کې حکومتي ځواکونو دخلکو پر کورونو بمبار کړی، په دغه بمبار کې دوه ماشومان شهیدان شوي او دوې میرمنې ټپیانې شوې دي.

د جولای په ۲۲مه د سرپل ولایت د سنګچارک ولسوالۍ په توپخانه سیمه کې دحکومتي ځواکونو دهاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی او شپږ تنه ټپیان شوي دي.

د جولای په ۲۲مه د هرات ولایت د ګزرې ولسوالۍ په خم زیارت سیمه کې د حکومتي الوتکو په دوه ځلي بمبار کې شل تنه ملکي وګړي شهیدان شوي، لسګونه ټپیان شوي او خلکو ته پراخ مالي تاوانونه اوښتي دي. د سیمه ییزو خلکو په وینا لومړی دخالد په نوم یو بندي چې له بګرام زندان څخه تازه را خلاص شوی و، پر کور برید و شو، وروسته چې خلک د شهیدانو او ټپیانو د انتقال لپاره راغلل، دې وخت کې دوهم برید هم وشو چې نوره مرګ ژوبله یې رامنځته کړه. له دې برید وروسته حکومت ادعاء وکړه چې لسګونه طالبان یې له منځه وړي دي، خو وروسته ثابته شوه چې د همدې دواړو بریدونو قربانیان ولسي وګړي دي.

د جولای په ۲۲مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ د ډنډغوري په علاؤ الدین خیلو کلي کې حکومتي ځواکونو پر یو کور بمبار کړی، په دغه بمبار کې اووه تنه ماشومان او میرمنې شهیدان او ټپیان شوي دي. همداراز دکلي پر روغتون یې ډزې کړې چې له امله یې دروغتون یو ملازم ژوبل شوی دی.

د جولای په ۲۳مه د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په خارکلي کې حکومتي ځواکونو د پرچون پر یو دوکان بمبار کړی، په دغه بمبار کې درې ماشومان او یو ملکي سړی شهیدان شوي دي .

د جولای په ۲۴مه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ کنجک سیمه کې د حکومتي ځواکونو په بمبار کې دخلکو کورونو ته زیان رسیدلی او څلور تنه ملکي وګړي پکې ژوبل شوي دي.

د جولای په ۲۴مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په دورانیو سیمه کې داخلي عسکرو یو ۱۸ کلن ځوان په خپل کور کې شهید کړی دی.

د جولای په ۲۶مه د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالۍ په دهنو- لشکري خیل سیمه کې اشغالګرو پر یو جومات ډرون حمله کړې، په دې حمله کې مسجد وران شوی او یو ملکي وګړی پکې شهید شوی دی.

د جولای په ۲۷مه د بلخ ولایت د خاص بلخ ولسوالۍ په کلفت بندر سیمه کې داخلي عسکرو یوه میرمن او درې نارینه شهیدان کړي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،ویسا ورځپاڼه، مسیر=،ټول افغان ویبپاڼه ،نن ټکی اسیا=ا=]

بلبل د زړه مې خدایه کړې را ویښ په شومه دم

پیرمحمد کاروان

بلبل د زړه مې خدایه کړې را ویښ په شومه دم
چې ووایي نغمې ستا د ګلونو د شبنم
په یوه نرۍ موسکا یې کړه د امن په جنت
دا جوړ چې له جهان دی په جنګونو جهنم
مارغان د افغان هم دي سوي لوي په لمبو
خبر که ناخبر یې ابابیله د حرم
افغاني توتکی دي لکه ترې هاجرې
سهرابې یې کړه ربه بس د مینې په زمزم
دعا په عاجزۍ کوه وطن ته د افغان
یې ناست پر عرفات که په طواف وهې قدم
د مینې د جمال ربه را داسې زمانه
توپیر چې په کې نه وي د عرب و د عجم
لوستونکیه راسره وایه په دې دعا آمین
په عمر تر ما مشر یې که یې له مانه کم
ګلاب ګلاب نرګس نرګس غاټول غاټول نغمې
کاروان لیکي د پرخو پرخو اوښکو په قلم

غزل

په اصل او معنی راته معلومه ازادي ده
دا تاسو یئ چې لمانځی دانو کومه ازادي ده

وطن مو اشغال شوی او فکرونه ترړل شوي
حاکمه غلامي ده او محکومه ازادي ده

محراب شو لوټی لوټی‌او ممبر خالي‌خالي دی
امام مو تروریست شو دا مذمومه ازادي ده

هغه چې مو نیکونو ازادي وه تري ګټلې
هغوی چې دلته ګرځي بې مفهومه ازادي ده

پښتو د خاورو لاندې شوه غرور مو راته وژني
له ننګ حیاء غیرت ځنی محرومه ازادي ده

د پیغلو عفتونه عصمتونه پکې لوټ شوه
زلمي پکې ګمراه شول دا معدومه ازادي ده

په لاس د دښمنانو ازادي نه شي راتللی
په مونږ راتپل شوې داځه شومه ازادي ده

په نوم د ازادۍ دلته قومونه غلامان شوه
اوس دلته بې اساسه اوبې نومه ازادي ده

که‌خدای‌کوي له غرونو به بښارونو ته هم راشي
تر اوسه لا محدوده او ماشومه ازادي ده

یو ورځ به انوري دا سپین بیرغ دلته رپاند شي
نو بیا به درته وایم چې را درومه ازادي ده

تپ تپ یا موټر سایکل

قاري سعيد

مازدیگر دی کلی زیړ زرغون ځلیږي
لمر د دنګو چینارو په سر لګیږي
هلته بر په نری لاره خوک روان دي
د تپ تپ یې نری دوړه پورته کیږي

یو زلمی، یوه یې ناوې محبوبا ده
او د ناوې غږ تر سپین ماشوم چا پیره
دا ماشوم یې د واده لومړی ثمر دی
لا دوره د ناوې توب یې نه ده تیره

ناوې بیا د واده شین کمیس اغوستی
له سړي سره د پلار کره روانه
د آسونو دور تیر او موټر نشته
له غږیته په تپ تپ سپره روانه

که موټر نشته نو څه، مینه خوشته ده
یو کمساری هیَجان په لاره درومي
چا ویل؟ چې تنها دوه تنه روان دي
د پاک عشق عظیم توپان په لاره درومي

د تودې مینې احساس، خوږې خبرې
د مَینو زړه درزا او تکانونه
دا مزل خو دې لا څو فرسنګه اوږد شي
خدایه لنډ مکړې د ځمکې تناوونه

د شفق د سیند په غاړه لمر ولاړ دی
د عشق دغې نندارې ته لاس تر زنې
څه ارام، څه اطمینان، څه خاموشي ده
کاش لا نه وای دا سپېره غږ د بنګنې

په تلو تلو کې ورته نېغ پیچومی راغی
چې تپ تپ دُوپُشته نه شي پرې ختلی
ناوې کوزه شوه او پلې شوه روانه
څو خاوند یې تپ تپ وشي خیژولی

د پیچومي سنګریزې تېرې، ځیږې دي
خو د ناوې سترګې خښې په زلمي کې
کله درد او په سترګو باندې پوهیږي
د عشق غشي چې وي مات په کوم زړګي کې

ها دی ځوان د کوتل سرته نږدې شوی
په رخسار یې د لمر ژیړه وړانګه لګي
په نظر نه شي، ښکلا یې تالا نه شي
خزان تل په ګلورینه څانګه لګي

ناوې ګام پر ګام روانه مخ پر لوړه
ماشوم غږ کې او خاوند یې په نظر کې
یو دم درز شو... له زلمي شوه لمبه تاوه
وړون بمبار و کړ د نېغ پیچومي سر کې

ناوې ولړزېده، سترګې یې تیاره شوې
زیون وهلې شوه، مخپورته یې کړې منډې
ځان تري هېر، ماشوم تري وغورځېد په لاره
په خاوند بل شوې اور ته یې کړې منډې

چې څه ګوري ځوان د وړون ګوزار خوړلی
په نازک بدن یې سرې لمبې بلیږي
سپین فاسفورس یې په وجود پورې نښتي
په ترپکو دی، تپیږي او وریتیږي

ناوې چیغې کړې، خو څوک به یې غږ واوري؟
لاس یې تیت کړل، ګوندې اور په خاورو مړ کړي
وچو پرښو یې نازک لاسونه غوڅ کړل
نصیب کله سړی څومره اړ او پر کړي!؟

په تش لاس کله ورمخکې شي لمبو ته
د بارو تو تاویې وتمبوي شاته
کله وایي درځم! ته هم ځان لمبه کړه
د ماشوم ژړا چې واوري بیا شي پاته

زیړې لمریې په نیمکښه نظر ځاري
یوه ناوې د مرګ ژوند تر منځ حیرانه
ډکې سترګې غږوي ښکته او پورته
د ماشوم او د خاوند تر منځ حیرانه

لمر پناه شو د ګړي له شرقي اړخ نه
په غربي اړخ کې سهار دی ورځ پیلیږي
(وړون حمله کې ایله یو تن وژل شوی)
دا خبر له خَبرو نه حسابیږي...

د الله تعالی د لارې مجاهده !

ځواکمن اوسه؛ ځکه الله ﷻ درسره دی،

شتمن اوسه؛ ځکه الله ﷻ دې رازق دی،

خوشال اوسه؛ ځکه الله دې دوست دی،

مه خفه کېږه، مه غمجن کېږه او مه ناهیلی کېږه.

تل پر الله ﷻ باور ولره...

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal

د قدرت انحصار نه غواړو، د افغانانو ټول
قومونه او پرکنې یوه او بل ته ضرورت لري؛
بلکې د اسلامي نظام تکامل، خپلواکي او قوت
دافغانانو په اتحاد او اتفاق پورې تړلی دی،
اسلام موږ تولوته د اسلامي ورور ولی، امانت
داری، او کار اهل کار ته د سپارلو امر کوي، د
ولس هر وګړی حق لري چې د ژوند دټولو
حقوقو او امتیازاتو څخه کټه واخلي او
سیاسي او ټولنیز حیثیت یې د اهلیت او
تقوا پر بنسټ وټاکل شي.

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی د
دغه کور ابادول، د دیني او ملي ارزښتونو
ساتل او له خپلواکی او ځمکنی بشپړتیا څخه
یې دفاع کول د هر افغان مسؤولیت دی.

د عالیقدر امیر المؤمنین له ویناوو څخه